بشپړ او مدلل

# د اعتکاف مسئلې

د قرآن او احادیثو په رڼا کې

مؤلف

مولانا مفتي محمد رفعت «قاسمی»

پښتو ترجمه

مفتی محمد ابراهیم «خلیل»

خپرونکي

رشیدیه کتابخانه سرکي روډ کوټه

# دکتاب پیژندنه :-


دکتاب نوم : داعتکاف مسئلې

مؤلف : مفتی محمدرفعت «قاسمی»

پښتوترجمه : مفتی محمد ابراهیم «خلیل»

تصحیح اوډیزاین : ابوخالد مولوی عبدالاحد «مجروح»

دترجمې اوکمپوزچاری : دنورالقرآن اداري دکمپوزاوترجمې څانګه

خپرونکی : رشیدیه کتابخانه سرکی روډ کوټه

دچاپ ځای : لاهور

دچاپ کال : (۲۰۰۹) عیسوی

دچاپ شمیر : ۱۱۰۰/ ټوکه

دفهرس پای

واخردعوانا ان الحمدلله رب العلمین

ابوخالد

**دحضرت مولانا مفتی نظام الدين صاحب مدظله رايه**

**ددارالعلوم ديوبند ددارالافتاء ناظم**

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين

تر نظر لاندی رساله مکمل اومدلل داعتکاف مسئلې، هم دمؤلف دمخکنیو دوو کتابو مکمل اومدلل دتراویحو مسئلې، اومکمل اومدلل دروژې مسئلې، دځانګړتیاوو اوفا ئدو په څیر ځانګړتیاوی اوفائدی لري.

هره مسئله دحوالي دعبارت سره سم وړاندی کولوسره باور اواعتماد نورژورشي .الله تعالى دی دغه رساله هم دعا مو اوخا صو په ګټه تمامه کړی اوقبوله دی کړی آمين.

**العبد نظام الدين**

**ددارالعلوم ديوبند مفتی**

**(۱۴۰۷۶۱۹ هج)**

## د مؤلف وینا

هر کال په لیدوکي راځي چي درمضان المبارک په میاشته کي په عامو مسلمانانو کي ددیني جذبو یوزبردسته جوش پیداشي ،اوددوی په عباداتو کي ځانګړی زیاتوب احساسیږی،بیا په آخری عشره کي نژدی په هر مسجد کي ښا غلی معتکفان هم په نظر راځی بلکه ځای ځای مسجدونه په اعتکاف کونکیو ډک شی ،خو ډیر ه دافسوس خبره ده چي داعتکاف له مهمو مسئلو دناخبرتیا له امله دډیرو وګړو اعتکاف نه صحیح کیږی، ډیر ځله زیا تره اعتکاف کونکی په لومړنی ورځ خپل اعتکاف فاسد کړی اودوی په خبر هم نه وی .ددغو حالاتو په نظر کي نیولو سره بنده دخپلو مشفقو استاذانو دتوجه په فیض په اعتکاف کي روزانه رامخته کیدونکی ضروری مسئلي دفقه دسند درلودنکو کتابوله حوالو څخه په دغه رساله (مکمل اومدلل داعتکاف مسئلې) کی راغونډی کړی دی تر څو اعتکاف کونکي بزرګان اودوستان له دغو مسئلو ګټی تر لاسه کړی اوخپل اعتکاف له فاسدیدو وساتي اوهغه زیات نه زیات د رحمت اوثواب باعث وګرزوی.

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم

محمد رفعت قاسمی ددارالعلوم دیوبندمدرس

۸ جمادی الاخری ۱۴۰۷هج –

## اعتکا ف څه دی؟

دروژی په وسیله دانسان نفسیات پر اعتدال راوړلو سره هغه دشریعت دغوښتنو تر سره کولو وړ جوړکړی ؤ اوس چي کله په دی طریقه شل ورځې تیری کړی ګواکی دروحانی دوایو نصاب (کورس) بشپړ شو ، نواوس الله تعالی داوغوښتل چي زما بنده له ماپرته له ټولو مخلوقاتو څخه نامهمی اړیکی پری کړی یواځي زماپر در پریوزی،اوله ماپرته دده له هیچا سره تړاو پاتی نه شی .په روژه کي یې خپله محبوبه میرمن یواځی په ورځ کي په پري ا یښی وه ،کله چي بنده په دی کي بریالی شو ،نواوس یی شپه اوورځ له هغي بیل کړی داټول ګوښه توب یي دځان لپاره خاص کړ،اووی فر مایل چي خوراک،څښاک ،پر یوتل ،ویدیدل ټول زما په کورکي کوه اوزما کومه یادونه چي دی ددنیا په کارونو کي دبوختیا پر مهال کوله ،اوس به هغه له ټولو جلا زما دعبادت په ځاي کي کیږی ترڅو ددنیا له ناپاکه ماحول یولورته شی په زړه اودماغ دی زمامینه ننوزی ،اوستا دزړه پر دنیا اوس حکومت وی نویواځی دیوه اوقهارالله تعالی وی.(رمضان کیاهی ؛ص ۱۴۰)

دمعتکف مثال دهغه سړی په څیر دی چي دچاپر دروازه پریوزی اووائي چي ترڅو زما درخواست قبول نشي نه ځم.

که په رښتیا همدغه حال وی نوله سخت څخه د سخت زړه انسان به هم زړه نرم شی ،اودالله تعالی سخی ذات خو دبخښنی لپاره

چي ودنياته شاکړی دالله "پر دروازه پريوزی نو دهغه په ناز
کيدوکي څه شک کيدای شي اوالله تعالی چي دچا اکرام وکړ
،نو دهغه ده کو خزانو بيان څوک کولای شي.
داغه رنګه معتکف هر وخت په عبادت مشغول وی چي سړی پ
ويديدو ويبنيدو هر وخت په عبادت کی شميرل کيږی اوو الله"ت
نژدي والی دی ،په حديث کي راغلی دی چي :کوم څوک يولاس
زما پر لور نژدی شي زه هغه ته دوه لاسه ورنژدي کيږم اوڅوک چي
زما وطرفته (سوکه هم )تګ کوی زه دهغه پر لور په منډه ورځم
،داغه رنګه په دی کي دالله "په کورکي کيدل :ي اوسخی کوربه
تل وکورته دراتلونکيو اکرام کوی ،داغه رنګه دالله ﷻ په قلعه
کی محفوظيږی چي دښمن هلته ورتلاي نشی.داغه رنګه په
اعتکاف کي خوتګ راتګ اودلته هلته کارونه هم نه وی ځکه
نوله عبادت اوسخی بادار له ياده سواکومه بله بوختيا هم نشي
پاتی. (فضائل رمضان ص۵۱ )

## داعتکاف ثواب

که يواځي دالله" درضا لپاره اعتکاف وکړل شي نو ډير لوړ اوستر
شان درلودونکی عبادت دي :رسول الله صلی الله عليه وسلم
داعتکاف ډير زيات اهتمام کاوي: امام زهری رحمه الله وايی چي
:رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله ډير کارونه کول او کله به يی
پريښودل خو له کوم وخت څخه يې چي مدينی ته تشريف راوړي
دژوند ون تر آخره هيڅکله يې هم (درمضان دآخرني لسوورځو )

اعتکاف نه پرېښود خوحیرانتیا ده چي خلک په پوره ډول ددی پابندی نه کوی...
داعتکاف کونکیو په اړوند درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاددې
:هو یعکف الذنوب ویجری له من الحسنات کعامل الحسنات کلها
(رواه ابن ماجة عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما)
اعتکاف کونکي له ګناهونو ساتل کيږی اودهغه لپاره (بیله کولو )هم دومره نیکیاني لیکل کيږی څومره چي دکونکیو لپاره لیکل کيږی : تشریح :په دی حدیث کي داعتکاف دوی غټی مهمي ګټی بیان شوی دي :(۱)یوه خودا چي انسان له ګناهونو ژغورل کيږی ،ښکاره خبره ده چي انسان چي هر ځای کښینيي له هر ډول خلکو سره مخا مخ کيږی اوبیا دټولی نړی کیسي اوپرېکړی مخته راځی په کومو کي چي دروغ ، رښتیا ،غیبت ،بهتان ،او نور هرو مرو وی په ځان بچ کولو کي هم انسان دخپل ماحول له تأ ثیراتو ډیر لږ په حفاظت کي کيږی.خو په مسجد کي په کښینستو انسان له دغو ټولو جګړو ساتل کيږي(۲ ) دوهمه غټه دګټی خبره دا په لاس راغله چي دډیر و نیکیانو ثواب بیله کولو هم په مفته کی ورکول کيږی :حقیقت دادې چي الله تعالی دورکړی لپاره بهاني پلټی چي کومه بهانه په لاس راشی نوخپل بنده نازوم ، معلومیږی داسی چي خدای ﷻخودورکړی پر یکړه کړی ده اماپه یوه بهانه یي راکول غواړي اعتکاف کونکي خو ډیر نیک کارونه لکه (په جنازه کي برخه اخیستل ،دناروغ پوښتنه اونور

(صرف په دي وجه نه کوی چي ده په مسجد کي هستوګنه پيل کړی ده ، نوچيری بنده دافکر ونکړی چي اعتکاف می وکړ په سلګو نو عبادتونو اوله غوره کارونو پاته شوم ، ځکه الله تعالی بيله کولو دغه ټول ثوابونه دده لپاره مقرر کړل،څومره ښه موقع ده ،کيدلا ی شي لچي که سړی اعتکاف نه کولای نودومره نيکيانی يی هم نه شوی کولای،خواوس داعتکاف په برکت وده ته دغه ثواب ورکول کيږي

(۳)اعتكاف عشر فی رمضان كحجتين وعمرتين..

رواه البهيقی ،السراج المنير ج ١ ص ٢٢٠ الترغيب ج٢ص١۴٩ )

ژباړه : درمضان دآخری لسوورځو داعتکاف ثواب ددوو حجو اودوو عمرو برابردی.

تشريح:(دقدردانواړتياده) ،که په کوم کارکي ددنيا دومره ګټه خوځه کوی ددی لسمه برخه هم مونږته په نظر راغلی واي نومونږ به ددی ولاس ته کولولپاره وينه اوخوله يوکړی واي ،خوددينی کارونو زمونږپه زړونو کي هيڅ قدرهم نشته ،ځکه نوله غتی څخه غتی ګټي په اوريدوهم مونږ سرنه خلاصوو ...ديوه وړده حديث شريف لنډيز دی چي کوم څوک دالله ﷻ لپاره ديوی ورځي اعتکاف کوی الله تعالی دوزخ له ده څخه دځمکی اوآسمان دواټن په اندازه دري چنده ليری کوی يعني له دوزخ سره ګواکی دده هيڅ تړاو نه پاته کيږی ،خو په مونږ کي به څومره خلک وی دکومو په زړونوکي چي ددغو ټولو ګټو اجر اوثواب په اوريدوداعتکاف

شوق اوجذبه راپیدا شي ،اوهغه ددی لپاره په راتلونکي روژه کي چمتووي لږ ترلږه ددی ثواب دلاس ته کولو ډیره هوسا طریقه داده چی پنځه وخته چي دلمانځه لپاره ومسجدته ورننوزو نوداعتکاف نیت وکړو؟ ترڅو چي په مسجدکي یوو .که یومخ چپ هم کښینو بیا هم داعتکاف ثواب راکول کیږی اوکه قرآن کریم یا تسبیحات اونورهم وایو نوددی ثواب جلاراکول کیږی
(رمضان کیاهي ،ص۱۴۴)(دعینی شرح بخاری ج ۵ ص۳۷۱ په حوالداوسنن ابن ماجة ص۱۲۸)

## دا عتکا ف روح

حافظ ابن قیم رحمة الله علیه وائي چي داعتکاف مقصد اودهغه روح و زړه ته داالله له ذات سره تړون ورکول دی چي وټولوته شا کړی دهغه سره یو ځای شي اودټولو بوختیا وپه بدل له هغه پاک ذات سره مشغول شی اودهغه دغیر له لوری اړیکی پری کړی په داسی ډول په هغه اخته شی چي دخیالاتو اوفکر ونودټولو پر ځای دهغه دپاک ذکر اودهغه د مینی کیفیت شی .. تردی چي دمخلوق سره دمینی پر ځای داالله سره محبت پیدا شی چي دغه محبت به دقبر په وحشت کي کارورکوی په هغه ورځ به داالله جل جلاله له پاک ذات پرته نه کوم مینه وال وی اونه کوم زړه ور خوشحاله کونکی :که دزړه مینه له هغه سره راغلی وی نوځومره په خوند به وخت تیریږي.
(فضائل رمضان ص۵۱)

## دا عتکا ف حکمتو نه اوفا ئد ې

په اعتکاف کي چي دشرعی حکم کیدو له کبله هر ځومره ګټی او

حکمتونه وی خوکم دی. دلته یوڅو لنډ حکمتونه اوفائدی لیکل کیږی.

(۱) که یواځی داسی ویل شوی وای چي یو مخ پر یوه طرف پرداسی ځای لس ورځي تیری کړه چیرې چي مارغه وزرهم نشی رپولای نوښکاره خبره ده چي ګوښه توب او تنهائی خوزیات په برخه کیږی خودداسي ګوښه توب څه فائده چي انسان دانسان پر ځای یو غرني حیوان جوړشي اوله ناوړه صحبتونو څخه دځان ژغورني په شوق له ښو صحبتونو څخه هم بی برخی شی ځکه الله تعالی د اعتکاف لپاره مسجد وټاکی ولي چي بیهوده اوغلط ډول خلک خومسجد ته نه راځي دکومو ناسته چي تاوانی وی :تل له لمونځ ګذارو ،پر هیزګار و اوتهجد کونکو خلکوسره مخامخ کیدل دی له هغوی سره ناسته ولاړه خبری اتری کیږی دکومو مجلسونو چي بي پایانه ګټور اوپه کار راتلونکی دی ،ځکه نو همدغه وجه ده چي دداسی مسجد ځکم یي وکړ چیرئ چي پنځه وخته لمونځ کیږی ولی چي که په داسی وران مسجد کی اعتکاف کیدائ چي دانسان تر لیری لیری ښه نه وای نوتر ګټی به یي تاوان ډیر وای نه به په جماعت سره لمونځ وای اونه به دنیکو خلکو مجلسونه په نصیب وای.

(۲) په اعتکاف کی انسان بی فکره شی اوزړه ددنیا له تفکر اتوخالی شي ،دانسان توجه له خدایه لیری کونکی شیان خواکه هغه شیان په انسان کي دننه وی یا دباندی .چي کله انسان په

خلوت كي اوسيږي نوسوكه سوكه ټول ختميږي اوزړه به په بوره ډول ددنيا له خيالاتو خالي اوديوه الله ولورته به متوجه شي اودي به دعبادتو نو دانوارو اوبركتونوتر لاسه كولو وړووګرزي(۳) دخلګو سره په ناسته پاسته اودكاروبارپه بوختيا ووكي چي له انسان څخه كومى كوچنى غټي ډيرى ګناهوى كيږي په اعتكاف كي له هغوى څخه په حفاظت كى وي (۴) الله تعالى فرمايي: چي كوم څوك وماته يولاس رانژدى كيږي زه وهغه ته دوه لاسه ورنژدى كيږم اوڅوك چي زماپر لورتګ كوى راځي زه په منډه ورځم هغه خپلوم ،اواعتكاف كونكى خودخپل كوراوتاټوبي په پر يښودلو يواځي نژدى نه بلكه دخداى كورته راشى دهغه ودرته پريوزى.نواوس تاسو اندازه وكړى چي الله تعالى به څومره نژدى اوپر ده به څومره مهربان وي( ۵ ) درانه خلك وخپل كورته د راتلونكيوميلمنو عزت اوقدركوى نودسخيانو سخي اووركو نكوته وركونكي به خپل كورته د راتلونكي ميلمه آيا هيڅ عزت اواكرام ونكړى( ۶ )شيطان دانسان پخوانى دښمن دئ خوكله چي انسان دخداى په كوركى وى نوګواكي په ټينګه قلعه كي دى ،شيطان اوس دده هيڅ تاوان نشى كولاي (۷) ملائكي هروخت دخداي په عبادت اودهغه په يادكي وى اودملائكو سره مشابهت پيداكوى اوملائكي خوو الله ﷻ ته ډيرى نژدى دى ځكه دابنده هم دالله" قرب اودهغه نژديكت حاصلوى (۸)نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائي چي تر څو انسان دلمانځه په انتظاروى وهغه

ته دلمانځه ثواب ورکول کيږي ،په اعتكاف كي داثواب هم ولاس ته کيږي (۹) ترڅو چي سړی په اعتكاف کي وی وهغه ته په تسلسل سره دعبادت ثواب ورکول کيږي خواکه دي پټه خوله ناست وی يا ويده وی ياپه خپل کوم بل کار مشغول وی:(۱۰)د اعتكاف كونكى هره دقيقه په عبادت کي وی نودقدرشپی ولاس ته کولو هم له دی غوره کومه بله طريقه نشته ولي چي هرکله چي دقدر شپه راشی دي به په هرحال په عبادت کي وی.

(رمضان كياهي ،ص ۱۴۲) دمشکوة شریف لومړی ټوک مخ ۲۸ په حواله

## دا عتكاف شرطو نه

(۱) په کوم مسجد کي چي پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کيږي په هغه کي دی اعتكاف وكړل شی (۲) داعتكاف په نيت په مسجد کي پاتي كيدل ،نوبيله قصد اوارادی پاته کیدلو ته اعتكاف نه ويل کيږي :کله چي دنيت صحيح كيدو لپاره دنيت کوونکي اسلام اوعقل شرط دی :ځکه نو دعقل اوداسلام شرط دنيت په ضمن کي راغلی (۳)له حيض اونفاس( مياشتني ناروغي اودماشوم زيږولو له وینی ) خالی اوپاكيدل اودجنابت له ناپاکي هم پاكيدل ،بلوغ يا نارينه والی داعتکاف لپاره شرط نه دی ،دنابالغه مگر پوه اوميرمني اعتكاف صحيح دی.

(علم الفقه دريمه برخه مخ ۴۲اودبهشتي زيور پيوولسمه حصه ص۱۰۷ دشرح تنوير لومړی ټوک مخ ۵۵۱ په حواله)

## دا عتكاف قسمو نه

اعتكاف درې ډوله دی:(۱ ) واجب (۲) مؤكد سنت( ۳) مستحب

## واجب اعتکاف

(۱) که چانذر منلی وی نذر خوانا معلق وی لکه چي کوم څوک بیله کوم شرط داعتکاف نذر وکړی چي زه به دخدای لپاره دری ورځي اعتکاف کوم ،یا معلق وی لکه چي کوم شخص داسی شرط وکړی چي که زما فلاني کاروشو نوزه به دالله ﷻ لپاره دوی ورځي اعتکاف کوم. نودااعتکاف واجب شو اوله دی سره پخپله روژه هم واجب شوه ولي چي داعتکاف دوجوب لپاره روژه شرط ده ، کله چي څوک اعتکاف کوی نوروژه به هم هرومرو نیسی بلکه که داسی نیت هم وکړی چي زه به روژه نه نیسم بیا هم دروژی نیول ورباندی لازمیږی .همداوجه ده که کوم څوک دشپی داعتکاف نیت وکړی نو هغه لغودی ولی چي شپه دروژی محل نه ده ، هو که دشپی اوورځي دواړو نیت وکړی یایواځی دڅو ورځو نوبیا په ضمن کی شپه هم ورسره داخلیږی اودشپی اعتکاف کول به هم ضروری وی اوکه یواځی دیوی ورځی داعتکاف نذر وکړی نوبیا شپه په ضمن کي ورسره نه راځي :په ځانګړی توګه دروژی د اعتکاف لپاره دروژونیول ضروری نه دی خواکه په هر غرض روژه ونیوله شي داعتکاف لپاره کفایت کوی دمثال په ډول یو سړی دروژی په میاشت کي داعتکاف نذر وکړی نودرمضان روژه دده داعتکاف لپاره هم کفایت کوی :هو ددی روژی واجب کیدل ضروری دی ،نفلی روژی ددي لپاره کفایت نه کوی مثلا یوسړی نفلی روژه ونیسي اوتر هغه وروسته ده هم دغي ورځي داعتکاف

نذر وکړی نوصحیح نه دی .هو که کوم سړی درمضان دټولی میاشتي داعتکاف نذر وکړی اواتفاقا په روژه کي ونه کړل شی نوپه کومه بله میاشت کي ددی په بدل کولو سره دده نذر پوره کیږی خوپر لپسي روژی نیول اوپه هغوی کي اعتکاف کول به ضروري وی.

بهشتي زیور یوولسمه برخه مخ ۱۰۷ دشا می ج ۲ ص ۱۷۷ او د شرح تنویر ج ۱ ص ۱۵۲ په حواله :(۲) سنت اعتکاف په دی کي خوروژه هسی هم وی ځکه نو ددی لپاره دروژی وشرط لګولو ته اړتیا نشته .یعني دروژي دمیاشتي دآخرنیو لسو ورځو اعتکاف مؤکد سنت دي دادشلمي ورځي مازدیګر دلمر لویدو مخکي پیل کیږی اوداختر میاشت خواکه د ۲۹ وی اوکه د ۳۰ وی دمیاشتی دښکاره کیدوسره سم پای ته رسیږی ،دغه اعتکاف رسول الله صلی الله علیه وسلم تل په ډیره پابندي سره کړی دي .په صحیح احادیثو کي نقل شوی دی :دغه اعتکاف مؤکد سنت کفایی دی یعنی په محله یا په کلي کي دځینو وګړو په کولو دټولو غاړي خلا صیږي اوکه هیڅوک یې هم ونکړی نوپر ټولو به ددی وبال اوګناه وی. ( بهشتی زیور حصه ۱۱ ص ۱۰۷ دشامی ج ۲ ص ۱۷۸ په حواله )

( ۳ ) مستحب اعتکاف په مستحب اعتکاف کي روژه نیول شرط نه دی ،اونه ددی لپاره کوم ټاکلی مقدار شته یوه دقیقه بلکي تردی په لږوخت کي هم کیدلای شی.

(بهشتی زیور حصه ۱۱ ص ۱۰۸ دشامی ج ۲ ص ۱۷۷ په حواله)

د مستحب اعتکاف په اړه حضرت شيخ الحديث ليکي :دامام محمد رحمة الله عليه په نزد دلږوخت لپاره هم اعتکاف جائز دی اوپر همدی فتوی ده ځکه نو دهر سړی لپاره مناسب دی چي کله ومسجدته ورننوزی داعتکاف نيت دی کوی چي په دی وخت په لمانځه اونورو بوخت وی داعتکاف ثواب هم ورسره وی.ما خپل پلار محترم نورالله مرقده ددی اهتمام کونکی ليدلي ؤ چي کله به مسجدته ولاړی نودښی پښي په دننه ور داخلو لو سره سمدستي به يې داعتکاف نيت کاوي اوډير ځله به وخادمانو ته دورښودلو په غرض په لوړ آواز هم نيت کاوي. (فضائل رمضان ص ۵۰)

## داعتکا ف تر ټولو غوره ځای

تر ټولو افضل هغه اعتکاف دی کوم چي په مسجد حرام يعنی کعبه شريفه کي وکړل شی تر دی وروسته دنبوی مسجد مقام دی بيا دبيت المقدس مسجد اوتر هغه وروسته دهغه جامع مسجد درجه ده چيری چي دجماعت بندوبست وی که په جامع مسجدکي دجماعت نظام نه وی نو دمحلی مسجد غوره دي تر دی وروسته هغه مسجددی په کوم کي چي زيات جماعت کيږی ، دمير منو لپاره دخپل کور په مسجد کي ( چيری چي لمونځ کوی ) اعتکاف کول بهتردی. (علم الفقه حصه ۳ ص۴۲)

## درسول الله صلی الله عليه وسلم اعتکاف

دنبی کريم صلی الله عليه وسلم شريف عادت داؤ چي درمضان په آخری عشره کي به يی اعتکاف کاوي :کله چي به دروژی آخرنی

لس ورځی راغلی نودده مبارک ﷺ لپاره به په مسجد کي يوځای
ځا نګړی شو اوهلته به دنبی صلی الله عليه وسلم لپاره کومه پرده
دچټايی اونورو ولګول شوه يابه کومه کوچنی خيمه ودرول شوه
اوپه شلم تاريخ چي کله به نبی صلی الله عليه وسلم دسهار لمونځ
وکړ هلته به ورغلی اوداختر دمياشتی په ليدو به بهرته راوتی.پر
دی مهال به نبی صلی الله عليه وسلم خپل خوراک څښاک هم هلته
کاوی ،اوهم هلته به ويده کيدي دده مبارک له بی بی ګانو څخه
چي به دکومی يوی دده دزيارت کولو قصدؤ هغه به هم هلته ورتله
،اوتر لږ ناستی وروسته به بيرته ستنيده ،بيله کومی سختی
اړتيا دي مبارک له هغه ځايه دباندی نه راوتی.يو ځل دده مبارک
دسر پاکولو قصدؤ اوام المؤ منين عائشة رضی الله تعالی عنها
دحيض په ورځو کي وه نوده مبارک ( خپل سر مبارک له دربچي
رابهر کړاوام المؤمنين په مينوولو ورپاک کړی.

( صحيح بخاری اونور ) علم الفقه حصه ۳ ص ۴۵ )

## په پيسو په بل اعتکاف کول

پوښتنه:دڅه شی په ورکولو په بل اعتکاف کول څنګه دی؟
ځواب: په اجرت اعتکاف کول جائز نه دی .ولی چي دعباداتو
لپاره مزدوری ورکول اواخيستل دواړه ناجائز دی لکه.چي
دردالمحتار فصل فی الجنائز والاجارات کي په تفصيل سره ددی
څرګندونه وجوذلری هو که بی داجرت له ټاکلو اعتکاف ورباندی
وکړی او:اعتکاف په کولو په هغه ځاي دڅه ورکولو رواج هم نه

وی نو څه ورکول روا دی بلکه دا په أمر بالمعروف کي داخليږي.

(فتاوی دارلعلوم ج۲ ص۵۱۲، د رمحتار باب صلوة الجنائز بحث غسل ج۱ ص۸۰۴ په حواله)

## که ديوه کلي سړی په بل کلي کي اعتکاف وکړی سنت دکوم کلي اداکيږي

پوښتنه: که ديوه کلي سړی بل کلي ته ولاړشی اعتکاف وکړی نوله کفايه سنت څخه دکومی سيمي خلکو غاړی خلاصيږی؟

ځواب: دفقهاؤ له عبارت څخه معلوميږی چي دهغه کلي اوښار دوګړو غاړی خلاصيږی چيری چي معتکف اعتکاف کړی وی ، ولی چي اعتکاف له مشهور قول سره سم کفايه سنت دی چي دهر کلي له خلکو سره تړاولری .نولکه څنګه چي داعتکاف په پر يښودلو هغه خلک ګنهګاره کيږی همدارنګه په ا داکولو هم د هغوی غاړی خلاصيږی.

(وفی جامع الرموز وقيل لسنة علی الکفاية حتی لو ترک فی بلدة لاساؤ الخ ص۱۶۴)

ښکاره خبره ده چي په دی عبادت کي دګناه تړاؤ دښاروالو داعتکاف سره نه دی ورکول شوی بلکه په ټولو ښاروکي داعتکاف په نه کيدو ښاروالاوو ته ګنهګار ويل شوی دی .چي ورځني ظاهردی چي که پردي سړی هم معتکف شی نو په داسی صورت کي په ټول ښار کي داعتکاف نه کيدل نه صادقيږی؟له کوم څخه چي دالا زميږی چي دښار داوسيدونکو له دی سنته غاړی خلا صيږی.

(فتاوی دارالعلوم ج۷ص۵۱۲)

## ایا دغټ کلی په اعتکاف دکوچنی کلی داوسیدونکو غاړی خلاصیږی ؟

پوښتنه:دغټ کلی په مسجد کي په اعتکاف کولود کوچنی کلی چي دغټ کلی سره یو مخ نښتی وی دخلکوذمه له دغه کفایه سنت څخه فارغیږی او کنه ؟

ځواب:دغټ کلی په مسجد کي په اعتکاف کولودکوچنی کلی د خلکو له دغه کفایه سنت څخه غاړی نه خلاصیږی..

(فتاوی دارالعلوم ج ۲ ص ۵۰۱ د درمختار باب الاعتکاف ج ۱ ص ۱۷۷ په حواله)

## ایا اعتکاف په هره محله کي کفایی سنت دي؟

پوښتنه:درمضان المبارک په آخرنی لسوورځوکي اعتکاف سنت کفایي دي،آیا دکفایي مطلب دادي چي یو اځی په یوه مسجد کي په اعتکاف کولو دټولو ښاروالاووله لوری سنت اداکیږی ،آیا د یوی محلی له طرفه اداکیږی ،یاکه داچي په هر هر مسجد کي اعتکاف ضروری دي؟

ځواب:ددی په اړوند می کومه صریح جزئیه ونه موندله ؟البته په شامی کي داعتکاف سنت دتراویحو قائمولو نظیر ښودلی دی اودتراویحو په باب کي ددریو قولونو تر نقلولو وروسته یې تر جیح ودیته ورکړی ده چی دهری محلی په مسجد کي دتراویحو په قائمولو کفایه سنت اداکیږی له دی څخه ثابتیږی چي داعتکاف هم همدغه حکم دي.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۴۹۹ د رالمحتار ج ۱ ص ۲۲۰ په حواله)

## درمضان داخرې عشرې اعتکاف واجب دې که نفل؟

دروژې دمیاشتې دآخرنیو لسوورځواعتکاف مؤکد سنت کفایه دې اوداقسم له واجب اونفل اعتکاف څخه بیل دې.

(فتاوی دارالعلوم ج۶ص۵۰۷،دردالمحتار باب الاعتکاف ج۲ص۱۷۷ په حواله)

## سنت اعتکاف له کوم وخت څخه ترکوم وخت پورې وي؟

دروژې دمیاشتې په شلمه دلمر ترلویدولړ مخته مسنون اعتکاف پیل کیږي اودروژې پر ۲۹یا ۳۰ یعني کله چې داختر میاشت ولیدل شي تر هغه وخته پورې وي .که دلمر تر لویدولړ مخته میاشت ولیدل شوه نودلمر ترلویدو په اعتکاف کې کښینستل ضروري دي.

(بهشتی زیور حصه ۳ص۲۲دشامی ج۲ص۱۷۹په حواله)

## له عشرې څخه دکم اعتکاف کوونکی حکم

پوښتنه :که کوم څوک دجسم دناتوانۍ له کبله دپوره آخرنیو لسو ورځو اعتکاف نشی کولای اودرې یا پنځه ورځې وروسته یعني د۲۱اود۳۰ په منځ کې اعتکاف وکړي نودسنت څه ثواب ورکول کیږي که له رمضان پرته دنورو اعتکافونو په ډول یوائې نفلی بلل کیږي؟

ځواب :سنت اعتکاف دآخری عشری دقیدسره سنت دئ ،اوکله چې داقیدعملی نشونو نه سنت دی اونه دسنت کوم جز ګرځی یوائې نفلی دی.

(امدادالفتاوی نوی ترتیب ج۲ص۱۵۴)

## په یویشتمه شپه په اعتکاف کی کښینستلو څه حکم دی ؟

پوښتنه:کوم څوک چي په یوویشتمه شپه تر پیښلمي کولو وروسته د سهار تر سپیدو لږ مخته داعتکاف په نیت ومسجدته ورننوزی دهغه اعتکاف صحیح کیږی اوکنه ؟

ځواب: سنت دادی چي په شلمه دلمر تر لویدو مخکی مخکی مسجدته ورننوزی خوتر دی وروسته چی هروخت هم نیت وکړی ومسجدته ورداخل شی بیا هم صحیح دی خودپوره عشری فضیلت په دی صورت کي نه حاصلیږی :نبي کریم صلی الله علیه وسلم دبشپړی عشری ( درمضان دآخرنیو لسوورځو ) اعتکاف کړی دی کوم چي دشلمی له ماښام څخه بشپړ کیدای شی.

( فتاوی دارالعلوم ج ۲ص۵۰۸،ردالمحتار ج ۲ ص۱۷۷باب الاعتکاف په حواله)

## ترشلمی شپی وروسته په اعتکاف کي دکښینستلو څه حکم دی؟

پوښتنه:که معتکف واعتکاف ته دشلمی دشپی دڅه برخی ترتیر یدلو وروسته ورداخل شی نوآیا دآخری عشری سنت اداکیږی کنه

ځواب .په دی صورت کي دآخري عشري پوره اعتکاف ونه شواوسنت پوره نه شو. ( فتاوی دارالعلوم ج ۲ص۵۰۷ردالمحتار ج۲ص۱۷۷ )

## دعذر په وجه اعتکاف نه کول څنګه دی؟

پوښتنه:یو مسافر مولوی صاحب له دوو کلو څخه دلته دی ،د اعتکاف ډیر فضیلتونه بیانوی اماپخپله په اعتکاف کی نه کښیني اوداعذروايي چي زما په کورکی دیوځای اوسیدلو لپاره څوک نشته زما خپلوان اوعزیزان نشته .زماوکورته نژدی یو

خالي ځکردی میرمن اوماشومان می ډیر ډاریږی اوکله ناکله په کورکی ډیری راځی نښلی ،دمولوی صاحب داعذر دقبلولو وړدی اوکنه؟

ځواب:دبیان شویو عذرونو له کبله اعتکاف پریښودل ګناه نه ده ،ولی چي درمضان دآخرنیو لسوورځو اعتکاف کفایه سنت دی.

(فتاوی دارالعلوم ج۶ص۵۰۷دردالمحتارباب الاعتکاف ج۲ص۱۷۷په حواله)

**ایا دروژی نیولو توان نه درلودونکي سنت اعتکاف صحیح کیږی**

پوښتنه:درمضان دآخری عشری داعتکاف کولو مي خیال دی خود روژی نیولو توان نه لرم نوبي له روژه نیولو اعتکاف صحیح دی کنه؟

ځواب: دمسنون اعتکاف لپاره روژه شرط ده ځکه نو بیله روژی اعتکاف نفلی دی:مسنون اعتکاف نه دی.

(فتاوی رحیمیه ج۳ص۱۱۰)

**دنا با لغه ما شوم اعتکاف کول څنګه دی**

پوښتنه:نابا لغ ماشوم درمضان په آخری عشره کي اعتکاف کولای شي کنه؟دلته یو نا با لغ هلک په اعتکاف کي کښینستلي دی که جا ئزنه وی نوهغه راولاړکړو؟

ځواب:نابا لغ هلک که پوه وی ،لمونځ پیژني ،اوپه صحیح طریقه یي کوی نواعتکاف کیدلای شي ،نفلی ګرځي مسنون اعتکاف نه ګرځي :که ناپوه دی نونه شي کښینستلای .ولي چي دمسجد دبي ادبي اندیښنه ده.

(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۶)

**دچا د بدن چي بد بو ئ ځي دهغه اعتکاف څنګه دی؟**

پوښتنه:یو سړی مورزاده دپوزی ناروغه دی دکومی په وجه چي بد بوئي راځي ،په علاج اوتداوی هیڅ ګټه ترلاس نه شوه نودداسي سړی په اعتکاف کي کښېنستل څنګه دی(۲ ) داغه رنګه داسړی دپنځو لمونځولپاره مسجدته ولاړشی اوکنه ،اوکه نورلمونځ کونکی دده په بدبوئي زغمولو خوشحاله وی بلکه دده په نه حاضریدو په تکلیف کیږی نوآیا بیا هم دمسجد داحترام په خیال تګ په کار دی اوکنه ؟

ځواب:په حدیث شریف کي دی کوم څوک چي له دی بوي جني در ختي خوراک وکړی هغه دی زمونږ مسجد ته نژدی نه راځي ځکه چي په هغه شي سره ملا ئکه وو ته تکلیف رسیږی په کوم شئ چي انسان په تکلیف کیږی .ځکه نو دچاد بدن دکومی برخی په بدبوئي چي خلکوته تکلیف وی نودهغه لپاره مسجدته راتګ نه دی پکار اونه په اعتکاف کي کښېنستل پکاردی :په وسیله محمدیه شرح طریقه محمدیه کي دی چي دکوم چاله بدن څخه داسي ناخوښه بدبوئ راځی دکومی په وجه چي خلک تنګیږی نودهغه ایستل پکاردی.

(۲) داحکم هغه وخت دی کله چي بدبوئي دناخوښی اوتنګولو حدته رسیدلی وی.

څوکه دوستان بي زغمی یاورسره عادی شوی وی نوبیا دا حکم نه ی ،خوبیا هم دده لپاره ومسجدته دراتګه ځان ساتل پکاردی

ولې چي مسجد دملائکو دحاضريدو ځاى دى هغوى اونور خلک له دى څخه تنګيږى ،خوکه بدبوئي کمه وى ،تکليف جنه ،اود ناخوښي تر ځايه نه وى رسيدلى نودپنځو لمنځونو لپاره دى بدبويي ليرى کونکى عطر اونور ولګوى اوولاړدى شي.
(فتاوى رحيميه ج۵ص۲۱۲)

## ايا مير من اعتکا ف کو لا ى شي

ميرمن دى په خپل کورکى چيرى چي يې دلمونځ کولو ځاي دى هم هلته اعتکاف وکړى اوپه هغه ځاى کي اعتکاف کول ددى په هکله داسى دى لکه چي دنارينه لپاره په جامع مسجدکي اعتکاف کول.له هغه ځايه دى له ضرورى اړتياؤ پرته په بل وخت کي نه راوزى اودښځى لپاره داهم جائز دى چي پخپل کورکي دلمانځه له ځايه څخه سوا بل ځاي اعتکاف وکړى اوکه ددى په کورکي دلما نځه لپاره کوم ځانګړى ځاى نشته نو يو ځاى دى د لمانځه لپاره وټاکي هم هلته دى اعتکاف وکړى.
(فتاوى عالمګيرى ج۲ص۳۰)

په فضائل رمضان کي دى چى :دميرمني دخپل کور په مسجد کي اعتکاف کول پکاردى که په کورکي کوم ځاى دمسجد په نوم متعين نه وى نوکوم کونج دى ددى لپاره ځانګړى کړى : دميرمنو لپاره اعتکاف دنرو په نسبت زيات هوسا دى ،په کورکي په ناسته دکورکار هم په نجونو کوى او مفت ثواب هم ولاس ته کوى :خوله دى سره ميرمنى له دى سنت څخه ګواکي يومخي بى برخي دى.
(فضائل رمضان ص۵۱)

## ایا د میرمنې لپاره دخاوند اجازه ضروري ده

دښځې که میړه وی نودهغه بې اجازې دې اعتکاف نه کوی ،او همدغه حکم دمرییې اومینځې دی چې دبادار بې اجازې دې اعتکاف نه کوی :اوکه خاوند ومیرمن ته اجازه وکړه بیا وروسته بې دئ دمنع کولو اختیار نلری که میرمنې داعتکاف نذر ومنئ نوخاوندته دااختیار شته چې دامنع کړی اوهمدغه حکم دمرییې اومینځې ومالک ته دی ،اوکله چې میرمن دخاوند له نکاح دباندی اومرییې آزاد شی نوهغه وخت دی قضاء راوړی .

(فتاوی عالمگیری اردوپاکستانی ج۱ص۳۱)

## که د اعتکاف پر مهال طلاقه شی نو څه حکم دی:

که میرمن په اعتکاف کې وه اوپه دی حالت کې ودی ته طلاق ورکول شو نودی ته پکاردی چې دپلارکره ولاړه شی اوپر همدغه اعتکاف دی بناء وکړی هلته دی معتکفه شی. (هدایه ج۲ص۳۲)

## میرمنی ته که داعتکاف په حالت کې حیض راشی نوڅه حکم دی؟

پوښتنه:میرمنی ته که داعتکاف پر مهال حیض یعنی میاشتنی ناروغی راشی نودابه ددومره ورځو قضاء راوړی اوکنه ؟

ځواب:په کومه ورځ چې حیض پیل شوېوائی دهغی ورځی قضاء واجب ده. (احسن الفتاوی ج۴ص۵۰۲)

ددی مسئلی وضاحت دبهشتی زیور په متن اوحاشیه کې په دی ډول دی چې که حیض یا نفاس ورته راشی نواعتکاف دی پرېږدی ... کې اعتکاف صحیح نه دی .خو تر پاکیدو وروسته خاص

دهغی ورځی داعتکاف قضاء ضروری ده .بیاکه قضاء دروژې په میا شته کې راوړی نودرمضان روژه ورته کفایت کوی اوکه د روژی تر میا شتی وروسته قضاء راوړي نو هغه ورځ روژه نیول ضروری دی. (بهشتی زیور ج۳ص۲۲)

## دنبی صلی الله علیه وسلم دبی بی گا نو اعتکا ف

له حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم به درمضان په آخری عشره کې اعتکاف کاوه تر مرگه دده مبارک دغه معمول ؤ : تر ده وروسته دده بی بی گانو په پا بندی سره اعتکاف کاوه تشریح:بی بی گانو به پخپلو حجرو کې اعتکاف کاوی،اودمیرمنو لپاره داعتکاف ځای د دوی دکورهم هغه ځای کوم چې دوی دلمانځه لپاره تاکلی وی ،که په کور کې کوم ځانگړی ځای مقرر نه وی نوداعتکاف کونکیو میر منو لپاره دځای انتخا بول پکاردی. (معارف الحدیث ج۴ص۱۱۹)

## داعتکاف لپاره دځا درونو بندو بست کول څنگه دی

پوښتنه:داعتکاف لپاره دمسجد په یوه کو نج کې دپر دی بندو بست کول څنگه دی ؟یعنی دپردی شتون سنت دی که بدعت ؟
ځواب: داعتکاف کونکی لپاره دمسجد په یوه کونج کې دخادر ونو اونورو حجره جوړول مستحب دی اوپه دی کې دستر اونورو ساتنه ده له دی پرته نوری گټې هم دی :دنبي صلی الله علیه وسلم لپاره دچټا ئي حجره جوړیدل ثابت دی ، بدعت نه دی ،خو معتکف دی دغه خبری په یاد کی ...

ځای دی نه نیسی ،دلمونځ کونکو دستو نزو سبب دی نه جوړیږی
دصفونو په سمیدوکي دی خلل نه وی نبی ﷺ دبوري اوپه ترکي
خیمه کي اعتکاف کړی وو ،له دی څخه معلومیږی چي له ځادر
اونورو څخه حجره(کوټه)جوړول له نبی صلی الله علیه وسلم څخه
ثابت دی:ځکه ودی ته بدعت نه شو ویلای.

(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۵دمرقاة شرح مشکوة ج۴ص۳۲۹په حواله)

## داعتكاف لپاره د مسجد ځادرو نه او برق كارو ل څنګه د ی

پوښتنه:معتکفان داعتکاف لپاره دمسجد ځادرونه کاروی اوپه
هره خیمه کي یو یو بلب(ګروپ) وی،دداسی خیمی جوړولو
شرعی څه حکم ده ، اومعتکفان دورځي په مسجد کي ویدیږی ار
په شپه کي په مسجد کي په خبرو بوخت وی؟ مهرباني وکړی په
دی اړه هم راته ولیکې؟
ځواب :داعتکاف لپاره خیمه جوړول مستحب دی که چا په
مسجد کي ځادرونه اینبي وي نو څه پروانه لری، که د مسجد په
پیسو رانیول شوی دی نو دهغوی دخیمی لپاره کارول صحیح نه
دی ، خپل ځانی ځادرونه کارول پکاردی (۲) بجلي برق دمسجد
له قانون سره سم چي تر څو بلیږی کارول صحیح دی تر هاکل شوی
وخت وروسته بلول صحیح نه دی ،ځکه نو څومره زیات مصرف
چي شوی وی معتکفان دی په ګډون اداکړی دمسجد حق د ی پر
خانو نه پریږدی:
۳) معتکف ضروری خبری کولای شی ،بی ضرورته دنیوی

خبرې که څه هم دګناه نه وی ،بیا هم په مسجد کې صحیح نه دی په حدیث کې دی چې کله کوم څوک په مسجد کې ددنیا خبرې پیل کړی نو ملائکې وایی اسکت یاولی الله یعنی ای دالله ﷻ دوسته چپ شه ،اوکه چپ نشی اوده خبرې روانې وساتلې نو ملا ئکې وایی اسکت یا بغیض الله یعنی ای دخدای ﷻ دښمنه چپ شه... تردې وروسته هم که هغه ددنیا خبرې کوی نووایی اسکت لعنة الله علیک یعنی پر تادی دخدای لعنت وی چپ شه.

(کتاب المدخل ج۳ص۵۵)

بیله اړتیا دی یوځای نه راغونډیږی ،معتکفان دعبادت لپاره دخپل رب دراضی کولو لپاره اودثواب حاصلولو لپاره کښینی ،که ددنیا په خبرو مشغول وی نوداجر اوثواب پر ځای به دملائکو لعنت اوبد دعا( ښیرا ) له ځانو سره یوسی ځکه نو پر معتکفانو لازمه ده چې یو ځاي دی نه جمع کیږی په خپله خپله خیمه کې دی دقرآن په تلاوت ،دعا ،نفلونو ،ذکر ،درودشریف او نورو بوخت وی اوکوم دنیوی کارونه چې له مسجد څخه بهر دنا معتکفانو لپاره صحیح نه دی هغه په مسجد کې اوبیا د معتکف لپاره څنګه رواکیدلای شی. ( فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۴ )

**ایا معتکف په مسجد کې په چارپا ېی ود یدلای شی؟**

پوښتنه:معتکف دخپل اعتکاف په ځاي کې ( په خیمه کي ) پر پلنګ ویدیدلای شی ,او کنه ؟

ځواب:معتکف په مسجد کي پر کټ ویدېدلای شي.
(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۷دمجموعه فتاوی ج۲ص۱۸ په حواله)

**ایا معتکف په مسجد کي پر طبیعت ګرزید لا ي شي**

پوښتنه:په مسجد کي دطبیعت سمولو لپاره ګرځیدل (چهل قدمی کول )دضرورت له امله جائز دی او کنه ؟

ځواب :دعادت په خلاف په مسجدکي داسی عمل کول چي د مسجدوړنه وی جائز نه دی اوداطبیعت سمول هم همداسی دئ ځکه منع کیږی خو دمعتکف لپاره دضرورت په خاطر داړتیا په اندازه اجازه شته کله چي دطبیعت سمولو ډول دمسجد داحترام په خلاف نه وی. (فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۷دامداد الفتاوی ج۴ص۱۷په حواله )

**د هوا خا رجو لو لپا ره ایا معتکف له مسجد ه وتلای شی**

معتکف دباد پریکولو لپاره له مسجد څخه دباندی تلاي شی که دده لپاره په مسجد کي هوا خارجول صحیح دی ؟

ځواب:صحیح دادی چي دهواخا رجولو لپاره دی بهرته ولاړشی ( فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۱۲ )په امدادالفتاوی کي دامسئله په دی ډول ده چي: زیات صحیح قول دادي چي له مسجد څخه وتل پکاردی ،اوروایت دمطلق کیدو په وجه ومعتکف اونامعتکف دواړوته شامل دی.یعنی په مسجد کي هوا ایستل نه دی پکار که معتکف وی که بل څوک.( امدادالفتاوی ج۲ص۱۵۳)

**ایا نذر شوی اعتکاف له قضا ئی روژي سره صحیح کیږی ؟**

پوښتنه:نذر شوی اعتکاف درمضان دمیاشتی دقضا ئی روژو په

ضمن کي اداکیدلائ شی اوکنه ؟
ځواب:که چا په معلوم رمضان کي داعتکاف کولو نذر منلی وی نو هغه درمضان دروژو سره اداکولاي شی ،که په روژه کي اعتکاف ونکړل شو نو دهمدغه رمضان دقضائی روژو سره هم کولاي شی کني دجلا روژو سره دی اعتکاف وکړی ،په بل رمضان یا په بل واجب کي دااعتکاف نه اداکیږي.
اوکه یې دنا معلوم اعتکاف نذر منلی وی نو دهغه لپاره دی مستقلی روژی ونیسی دقضاء روژه کفا یت نه کوی.
(احسن الفتاوی ج۴ص۵۰۷درد المحتارج۲ص۱۴۲په حواله)

## دا عتکا ف دنذ ر طر یقه

که چا دیوي شپي داعتکاف نذوکړ ،یادکومی داسی ورځی نذر وکړی په کومه کي چي یې څه خوړلی وی نو نذرنه صحیح کیږي ،اوکه داسی وویل چي دالله ﷻ لپاره پر ما واجب دی چي زه دیوی میا شتی اعتکاف بیله روژو وکړم نو پر ده واجب دی چي اعتکاف وکړی او کله چي دنذر داعتکاف لپاره روژه شرط ده اوداشرط هم دی چي خاص داعتکاف لپاره به روژه نیسی بلکي که چا دروژی دمیا شتی داعتکا ف نذر وکړ نو داندر صحیح دي ،نوکه دی سړی درمضان روژي ونیولی اما اعتکاف یي ونکړ نو پر ده واجب دی چي ددی دقضاء لپاره یوه بله میاشت اعتکاف وکړی اوروژي هم ورسره ونیسی اوکه ده په کومه بله میاشت کي داعتکاف قضاء راوره نو داندر نه اداکیږي ولې چي کومې روژې

له خپل وخت څخه قضاء شوی وی دده په ذمه واجب بالذات مقصودی شوی ،اوکوم شئ چي دذات په اعتبار مقصود شی هغه په بل نه اداکیږی تر دی چي که یې دکومی میاشتی داعتکاف نذروکړ اودروژی په میاشت کي اعتکاف وکړنو جائز نه دی اوکه یې په اعتکاف کي روژه ماته کړه بیا یې دیوی میاشتی دروژو قضاء سره له اعتکافه راوړه نو جا ئز دی .ځکه چي قضاء په مثل دادا واقع شوه ، دغه رنګه که دسهار پر مهال دچا نفلي روژه وه بیا تر څه وخت تیر یدو وروسته ده داسی وویل چي دالله "لپاره واجب دی چي دنن دروژی اعتکاف وکړم نو دده اعتکاف نه صحیح کیږی . ولی چي واجب اعتکاف بیله واجب روژی نه صحیح کیږی ،اودسهار پر وخت روژه نفلی وه نو اوس واجب نشی کیدلای.(عالمګیری پاکستاني اردو ج ٢ص٣٠)

## دا عتکا ف پر ما تیدو د قضاء څه حکم دی

پوښتنه:که په کومه وجه اعتکاف مات شو نو دهغه قضاء واجب ده کنه ؟

ځواب:دنفلی اعتکاف قضاء واجب نه ده ولی چي هغه له مسجد څخه په وتلو نه ماتیږی بلکي پای ته رسی ،دمعلوم یا نا معلوم نذر اعتکاف که مات شی نو دټولو ورځو قضاء واجب ده له نوی سره دی هم دومره ورځی پوره کړی ولی چي په هغوی کي تتا بع( پر لپسی والی ) لازم دی ،اودرمضان دآخری عشری په مسنون اعتکاف کي یوائی دهغی ورځی قضا واجب ده په کومه کی چي

اعتکاف مات شو تر فا سدیدو وروسته دااعتکاف نفلی شو د یوی ورځی قضاء خواکه په رمضان کي راوړی یا تر رمضان وروسته له نفلي روژی سره ،دیوی ورځي په قضاء کي دشپی اوورځي دواړو قضاء واجب ده که یوا ځي دورځی ،ددی په اړه می کومه څرګنده جزئیه تر نظر نه ده تیره شوی ،له قاعدو داسی معلومیږی چی اعتکاف که په ورځ کي فاسد شو نو یواځي د ورځی قضاء واجبیږی دسهار له سپیدو دی پیل کړی دلمر تر لویدو دی اعتکاف وکړی. اوکه په شپه کي اعتکاف فا سد شوی دی نو دشپی اوورځی دواړو داعتکاف قضاء واجب ده دلمر تر لویدو مخکی دی پیل کړی دوهمه ورځ دی دلمر تر لویدو وروسته پای ته ورسوی ،اوکه یې دورځي داعتکاف نذر ومانی نو یوا ځی دورځی اعتکاف واجب دی اوقضاء اعتکاف هم په وجوب کي دنذر په څیر دی نودده به هم هغه حکم وی.

(احسن الفتاوی پاکستانی ج۴ص۵۰۲)

## دسنت اعتکاف د قضا ء څه حکم دی:

پوښتنه:درمضان المبارک دآخری عشری اعتکاف مؤ کد سنت کفایه دی که یې دعذر په وجه مات کړ یا په هیره مات شو نوددی قضاء شته اوکنه ؟

ځواب: په پوښتل شوې صورت کي چي دکومی ورځی اعتکاف مات شوی دی دهغه ورځی داعتکاف قضاء سره له روژی لازمه ده ؟خو احتیا طا له اختلاف څخه دځان ساتنی لپاره که تر رمضان

وروسته لس ورځي له روژو سره قضاء راوړي نو غوره دي.
( فتاوی رحیمیه ج۲ص۱۱۰درد المحتار ج۲ص۱۸۰ په حواله)

## د نفلي اعتکا ف په ما تولو روژه وا جبيږي او کنه

پوښتنه:په نفلی اعتکاف کی که دسختی اړتیا له کبله یوه ورځ یوه شپه مخکی بهرته راووزی نو ددی قضاء واجبيږی او کنه ؟او که تر یوه ورځ یوه شپه زیات وخت تیر ولو وروسته دباندی را ووتی خودروژی تر میاشتی ختمیدو مخکی راغلی نو هم شرعی حکم څه دی ؟

ځواب:دنفلی اعتکاف په ماتولو قضاء نه لازمیږی خواکه تر یوه ورځ یوه شپه مخکی مات کړی وی یاتر یوه ورځ یوه شپه وروسته څومره چي اداشو هغه صحیح شو ..ځکه چي دروایت پر اساس دنفلی اعتکاف لږ موده یو ګړی دئ اوددی لپاره روژه هم شرط نه ده په خلاف دواجب اعتکاف چي دهغه په ماتولو قضاء لازمیږی اوروژه دهغه لپاره شرط ده.
(فتاوی دارالعلوم ج ۲ص۵۰۴رد المحتار باب الاعتکاف ج۲ص۱۷۹)

## تر کو م مسجد لاندی چي دو کانونه وی هلته داعتکاف څه حکم دی

پوښتنه:دکومو مسجدونو دننئ برخه خو پر پورته ځای جوړه شوی وي ،خوغولی پر دوکانو نو جوړشوی ، داخو معلومه ده چي په انګړ (غولی) کي په لمو نځ کولو دمسجد ثواب نه ورکول کیږی ؟پوښتنه داده چی کوم څوک په دننئ برخه کي معتکف شی

دهغه لپاره دجماعت دلمونځ کولو لپاره دمسجد غولی ته راتلل( ځکه چې نن صبا زیاتره وختونه لمونځ دباندې کیږي ) اعتکاف فاسدیږي او کنه ؟

ځواب‌لومړی خو که دوکانونه دمسجدلپاره وقف وی نودځینو فقهی روایتونو له مخی ودغه بام ته دمسجد ویلو ګنجائش شته ،دجماعت په اړتیا کي پر دغه روایت عمل جا ئزدی اودوهم که چیری مونږ راجح قول عملی کړو چي ددی حکم دمسجدنه دي .خوبیا هم دمعتکف لپاره داړتیا په خا طر وتل جائز دی ،خواکه هغه طبعی اړتیاوی یادینی ،اوجماعت موندل هم دنورو اړتیاوو په څیرله دینی اړتیا څخه دی ځکه وتل جائز دی.دریم چي کله له مخکی څخه معلوم وی چي له ما څخه ودی ځای ته تګ غواړی نو ګواکه داستثنا ءنیت یی کړی وی اوداستثناء پر وخت وتل جا ئز دی. (امداد الفتاوی ج:۱ص:۱۷۴

## په کوم مسجد کي چي پنځه وخته لمونځ نه کیږی هلته داعتکاف څه حکم دی

پوښتنه: زمونږ دکلی په مسجد کي دپنځو وختو جماعت نه کیږی نوپه هغه کي اعتکاف کولای شم او کنه ؟

ځواب :که په نورو ورځو کي جماعت نه کیږی خوداعتکاف په ورځو کي جمعه کیږی نو کفایت کوی ،اعتکاف صحیح کیږي تاسو په خوشحالی اعتکاف کولائ شی. ( فتاوی رحیمیه ج۲ص۳۹)

په احسن الفتاوی کی دامسئله داسې ده ، داعتكاف صحيح

کیدو لپاره راجح قول دادی چي په مسجد کي د جمع کیدل شرط نه
دی. ځکه نو په همدغه مسجد کي اعتکاف صحیح دی.
(احسن الفتاوی ج۴ص۵۰۷)

## دمسجدد نه شتون په صورت کي په داسی ځای کی اعتکاف کول چیری چي پنځه وخته جمع کیږی څنګه دی؟

پوښتنه: په یوه کلی کي مسجد نشته خو دلته په یوه کورکي پنځه وخته لمونځ په جماعت کولو انتظام شته نو په داسی کورکي اعتکاف صحیح دی او کنه، اوداعتکاف نه کولو په صورت دټول کلی په ذمه دمؤ کد سنت اعتکاف دادانیی بوج راځی او کنه، څه شکل به وی ؟

ځواب: کله چي په کلی کي مسجد نشته نو په کوم کورکي چي د پنځه وخته دجمع کولو بندو بست وی هلته دی اعتکاف وکړل شی، هیله ده چي دمؤکد سنت ثواب به درکړل شی او که موونه کړ نو دنه کولو بوج به وي، خومره چي مو وس وی کول پکار دی قبلول دالله" په اختیار کي دی. یادونه: په کوم کورکي چي په جماعت لمو نځ کوی هلته دجماعت ثواب درکول کیږی خو د مسجد له ثواب څخه به بي برخي یاست ځکه دمسجد جوړولو هڅي روانی ساتی.
(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۹)

## مسجد شهید کړل شو نو اعتکا ف چیر ی وکړل شی؟

پوښتنه: په کلی کي مو مسجد ؤ هغه شهید کړل شو بل ځای په مدرسه کي په جمع لمو نځ کوو نو آیا هلته اعتکاف کولای شو

،اوپه اعتكاف كولو مؤكد سنت اعتكاف اداكيږي ؟
ځواب: كه په شهيد كړل شوي مسجد كې اعتكاف شوني (ممكن ) نه وي او په كلى كې بل مسجد وي نو هلته دې اعتكاف وكړل شي :دمدرسې داعتكاف اعتبار نه كيږي ،اوكه مسجد نشته نوصحيح كيږي. (فتاوى رحيميه ج۵ص۲۰۹)

**معتكف په مسجد كې په ټاكلې ځاى كې وي كه ځاى بدلولاى شي**

پوښتنه:معتكف دځان لپاره په مسجد كې ځاى ټاكى نو دده لپاره په دغه ځاى كې اوسيدل پكار دي ياكه په مسجد كې چې چيرى وغواړي هلته اوسيدلاى شي ؟
ځواب :په ټول مسجد كې چې چيرى وغواړي هلته دي كښيني هيڅ پروا نلري. (فتاوى دارالعلوم ج۷ص۵۰۲دردالمحتار باب الاعتكاف په حواله ج۲ص۱۸۴)

**په غصب چې كومه حصه په مسجد كې ورشامل كړل شوي وي هلته دمعتكف اوسيدل څنګه دى**

پوښتنه:ديوه مسجد په فرش كې لږ ځاى په غصب په مسجد كې ورداخل كړل شوي دي اواوس په ظاهره ټوله دمسجد فرش معلوميږي ،په دغه ځاى كې بيله اړتيا دمعتكف پاتې كيدل يا داودس لپاره پر دغه ځاى كښينستل جائز دي اوكنه ،كه پر دې ځاى په ناسته اعتكاف ماتيږي ،اوقضاء واجبيږي
ځواب: ښكاره خبره ده چې كوم ځاى په غصب په مسجدكې ورداخل كړل شوي وي هغه مسجد نه وي ،داعتكاف پر مهال

اعتکاف قضاء هم لازمیږی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۶ص۵۰۵ردالمحتار کتاب الاشربة ج۵ص۴۰۷ په حواله)

## دمسجد دغاړی دیوال ته دمعتکف دتګ څه حکم دی؟

پوښتنه :- داعتکاف کونکی لپاره دمسجد څلور دیوالونه د مسجد په صحن کې داخل دی اوکنه ؟ځواب :په دی کې دمسجد دبانی ونیت ته اعتبار وی که هغه دغه دیوالونه دننه بللی وی نو داخل دی کنې خارج ،اوزیاتره دابلل کیږی چې کوم دیوال دمسجد له فرش سره لګیدلی وی هغه په مسجدکې داخل وی اوهغه بل لورته دیوال وتلی وی.(فتاوی دارالعلوم ج۶ص۵۰۷ )

## دمسجد دڅلور دیوالي دمعتکف لپاره څه حکم دی

پوښتنه:دمسجد په څلور دیوالی کې دننه ځای دمسجد په ځمکه کې داخل دی اوکنه ،اوبیله اړتیا دمعتکف لپاره دمسجد په انګړ یا څلور دیوالي کې کښینستل جائز دی اوکنه ؟
ځواب:دمسجد اطلاق یواځې دمسجد ددریودروازوپرکوټه اوپر فرش کیږي هغه شرعی مسجدوی ،دمعتکف لپاره تر دغه تیری کول جائز نه دی اوکه بې داسی وکړل نو اعتکاف باطلیږی.
( فتاوی دارالعلوم ج۶ص۵۰۸)
یادونه :کله چې اعتکاف کوی نو لو مړی دمسجد له متولی یا امام یاله بل کوم عالم څخه دامعلومه کړی چې اصل مسجد تر کومه ځایه دی ولی چې مسجدهمیشه تر ټولو دباندی دروازی پوری نه وی دمسجد څلور دیوالی بل شئ دی اووکوم ته چې په

شرع کي مسجد ویل کیږی هغه بیل شئ دی ځکه نو کومه برخه
چي له مسجد څخه دباندي وی هلته داعتکاف پر مهال مه ځی.

**ایا معتکف دجمعی لپاره نژدی ښارگوټي ته تللای شی**

پوښتنه:که معتکف دداسی آبادی په مسجد کي اعتکاف وکړی
چیری چي جمعه نه کیږی نو آیا دي دجمعی لمونځ کولو لپاره
ښارګوټي یاکوم داسی نژدی ځای ته ورتلای شی چیری چي جمعه
کیږی ؟

ځواب :اعتکاف په داسی مسجد کي کول غوره دی چي هلته
دجمعې لمونځ کیږی.که په داسی کلی کي اعتکاف وکړل شی چي
په هغه کلی کي جمعه نه کیږی نو داعتکاف کونکی لپاره بل ښار
ګوټي ته چیری چي جمعه کیږی تګ جا ئز نه دی ، مقامی جامع
مسجد کي دجمعی کولو لپاره تګ روادی. (کفایت المفتی ج۴ص۲۳۲)
په بهشتی زیور کي لیکلی دی چي ځایي جامع مسجدته دی
دجمعي دلمانځه لپاره داسی وخت ولاړشي چي تحیة المسجد
اودجمعي سنتونه هلته کولای شی اوتر لمانځه وروسته دسنت
کولو لپاره هم پاته کیدل جا ئز دی .ددومره وخت اندازه دهغه
سړی پررایه پر ښودل شوی ده ،که اندازه غلطه شی یعني څه
مخته ورسیږی نو هیڅ پروانلری ( بهشتی زیور حصه ۱۱ ص۱۰۹
دشامی ج۲ص۱۸۳ په حواله ) که دجمعی دلمانځه لپاره مسجدته
ورشی اوتر لما نځه وروسته هم هلته پاته شی او هم هلته اعتکاف

## داعتکاف په حالت کي ماشومانو ته ښوونه څنگه ده

پوښتنه:دمسجد امام صاحب په مدرسه کي ښوونه کوی او ښوونی تنخوا اخلی هغه درمضان المبارک په آخری عشره کي په اعتکاف کي وماشومانوته زده کړه ورکولای شی اوکنه ؟
ځواب:داعتکاف لپاره دی له مدرسی څخه رخصتی واخلی ،که رخصت ورنه کړل شی نو دمجبوری له کبله په مسجد کي زدکړه ورکولای شی. (فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۲ )

## ایا دمعتکف سره بل څوک روژه ماتی کولای شی

پوښتنه:دمسجد امام معتکف دی له ده سره دتراویحو امام (حافظ) کوم چي معتکف نه ده ،په مسجد کي له امام صاحب سره روژه ماتولای شی اوکنه ؟
ځواب:زیات احتیاط په دی کي دي چي حافظ له شرعی مسجد څخه بهر پخپله حجره اونو رو کي روژه ماته کړی.اوکه ومسجدته دننوتو پر مهال دنفلی اعتکاف نیت وکړی اوداسی ووایي:نویت الاعتکاف مادمت فی المسجد .نوبیا دمعتکف سره روژه ماتولای شی. (فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۳ دعالمگیری ج۲ص۲۱۵ په حواله)

## وبیت الخلاء ته دمعتکف وتل څنگه دی

که دسختی اړتیا لپاره معتکف له مسجد څخه دباندی ولاړشی نو له ضرورت څخه تر فارغیدو وروسته دی هلته نه دریږی اوتر څو چي ممکن وی په داسی ځاي کي دی خپله اړتیا تر سره کوی کوم چي وهغه مسجدته زیات نژدی وی دمثال په ډول تشناب ته

که ولاړ شی اودده کورلیری وی اودده دکوم انډیوال اونورو کور نژدی وی نو هلته دی ولاړشی .هو که دی پخپل کورکي عادی ؤ اوبل ځاي ته په تګ دده ضرورت نه پوره کیدي نو بیا جائز دی.
(بهشتی زیور حصه۱۱ص۱۰۹دشامی۱ ج۲ص۱۸۰او۱۸۲په حواله)

**که په ټټي کي څوک وی نو ایا معتکف انتظار کولای شی**

پوښتنه:معتکف که دبولو حاجت پوره کولو لپاره ولاړشی اوپه بیت الخلاء کي څوک وی نو آیا له ټټي دباندی دی انتظارو کړی که سم دستی په مسجد کي خپل ځای ته ولاړشی .اوبیا څه وخت وروسته بیرته راشی ،ځینی وختونه څو څو ځله بیرته تلل پکي راځي ،څه کول پکاردی ؟
ځواب:دداسی اړتیا پر مهال هم هلته بهر انتظار کول جائز دی.

**دډوډی خوړلو په غرض لاس پر یمنځو ته وتل څنګه دی**

پوښتنه:آیا معتکف له مسجد څخه دباندی د ډوډوی مخته او وروسته لاسونه پریمنځلاي شی ،خواکه په صابن وی یا بیله صابون اودغاښو په پوډرو ،یاټوپ یا مسواک غاښونه پاکولاي شی اوکنه ؟
ځواب:لاس پریمنځو ته وتل جائز نه دی.په مسجد کي دی په کوم لو ښی کي پر یمنځی ،پوډر یا مسواک اونو ر داوداسه سره کولاي شی ،یوائی دپو ډرو اونورو لپاره وتل جا ئز نه دی.

( احسن الفتاوی ج۴ص۵۰۲)

## ایا دمعتکف داوداسه لپاره وتل جا ئز دی

پوښتنه:آیا معتکف داعتکاف په حالت کې له مسجد څخه دباندی دفرض اونفلی لمونځونو دغه رنګه دقرآن لوستلو لپاره اودس کولای شی ؟

ځواب:که په مسجد کې دننه داودس کولو داسی ځای وی چې اوبه له مسجد څخه دباندی توییږی نوله مسجد څخه بهرته تلل جائز نه دی ،اوکه داسی ځای نه وی نو جائز دی .اودس خواه دفرضی لمانځه لپاره وی یا نفلی ،یا تلاوت یاذکر لپاره دټولو همدغه حکم دی. (احسن الفتا وی پاکستانی ج۴ص۵۰۰)

## دمعتکف لپاره دتحیة الوضؤ اوتحیة المسجد څه حکم دي

پوښتنه: معتکف چې هر کله اودس ته ولاړشی نو تحیة الوضو اوتحیة المسجد وکړی اوکنه ؟

ځواب:تحیة الوضؤ دی وکړی اوتحیة المسجد په ورځ کې یو ځل کفایت کوی. ( فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۸) .

## په نفلی اعتکا ف کې دجمعې دغسل لپاره وتل څنګه دی

پوښتنه: یوه سړی درمضان المبارک دټولی میاشتی اعتکاف وکړه داعتکاف دپیل کولو پر مهال دانیت کړی ؤ چې دجمعی دمستحب غسل لپاره به وزم دمسجد په څلور دیوالي کې غسل خانه شته آیا په داسی صورت کې دلمبید لو لپاره بهرته تللاي شی ، اوکه بې نیت نه وی کړی نو تللاي شی اوکنه ؟

ځواب: درمضان دآخرنیو لسوورځو اعتکاف سنت کفایي دی په

دی کي اودنذر په اعتکاف کي له واجب غسل پرته دجمعی او نوروغسلو لپاره دوتلو اجازه نشته دلومړی اودوهمی عشری اعتکاف (که نذر نه وی منلی نو) نفلی دی په دی کي دجمعي لپاره( یادجنازی دلمانځه لپاره یادناروغه دپوښتني لپاره) که يې دوتلو نیت کړی وی یایي نه وی کړی په وتو اعتکاف ختمیږی .ودی ته فاسد یدل نه ویل کیږی ،او کله چي دوهم ځل ومسجدته ورننوزی نوله هغه وخته بیا نفلی اعتکاف پیل کیږی.

(فتاوي رحیمیه ج۵ص۲۱۰)

## ایا معتکف تر لمبېدلو وروسته ناپاکي جامي پرېمنځلای شی اوله کوره دوډۍ راوړلای شی

پوښتنه: ومعتکف ته جنابت (ناپاکي) ورپیښه شوه دی غسل خانی ته ولاړي هلته يي ولامبل اوورسره ورسره يی هغه ناپاکي جامی هم کومی چي دجنابت پر مهال پلیتی شوی وی په هغه غسل خانه کي په چټکتیا سره پاکی کړی ،اوتر فرا غت وروسته دبیر ته را ستنیدو پر مهال يي داوبو له هغه منګي کوم چي وغسل خاني ته نژدی وولوته ډکه کړه دخپلی اړتیا لپاره بی راوړه.په دی صورت کي دنو موړی اعتکاف فاسد شو اوکنه ؟

(۲) که يي په داسی مسجد کي اعتکاف وکړ چیری چي غسل خانه نه وه بلکه نژدی تالاب وو ،اوس که معتکف پلیتی جامی وا غوندی ودی تالاب ته ورشوه شی اودلمبلو پر مهال په اوبو کي په ولاړه ولاړه دغه پلیتی جامي پاکي کړی نو داصحیح کیږی اوکنه

(۳) معتکف دډوډې رارسونکی ونه موند نو آیا پخپله ورشی ډوډی راوړلاي شی اوکنه؟

ځواب:که نذر منلی واجب اعتکاف ؤ نو په هغه کې یوائی دلمبلو لپاره له مسجد څخه دوتلو اجازه ده ،جامې مینځل یا داوبو ډکولو لپاره دریدل جائزنه دی.اوپه دی صورت کې به دی دواجب اعتکاف قضاء راوړی. اوکه اعتکاف نفلی ؤ (په دی کې درمضان دآخری عشری سنت اعتکاف هم داخل دی) نو په هغه کې دکپړو پریمنځلو اولوښي ډکولو گنجائش شته ،په دی شرط چې له مسجد څخه وتل یوائې دغسل لپاره وی.

(۲) پورته بیان شوی حکم ددوهمې پوښتنې هم بلل پکاردی.

(۳) که مسجد ته ډوډی رارسونکې هیڅوک نه وی نو دډوډی لپاره تلل اودډوډی تر رااخیستلو وروسته سمدستی بیر ته راتلل پکار دی ،ډوډی دی په مسجد کې دننه وخوړل شی دباندی دی نه خوري اوکه یې ومسجدته دډوډی رارسولو کومه وسیله وی نوبیا دی پخپله ډوډی راوړلو ته نه ځي. (کفایة المفتی ج۴ص۲۳۴)

**ایا معتکف له اعتکا ف ځاي څخه بهر ویدېد لای شی**

پوښتنه:معتکف له خپل ځای څخه (کوم چې ئې ټاکل کیږی) په شپه کې بل ځای ویدېدلای شی اوکنه؟

ځواب:معتکف چې په کوم مسجد کې اعتکاف کوی په هغه ټول مسجد کې چې چیری وغواړی اوسیدلای شی اوویدېدلائی شی.

(فتاوی دارالعلوم ج۷ص۵۰۳ ردالمحتار باب الاعتکاف ج۲ص۱۸۴)

**دګر مې په وجه د لامبلو لپاره وتل څنګه دي**

پوښتنه: دګرمی له کبله له مسجد څخه دباندې دمعتکف غسل کول جائز دي اوکنه؟

ځواب: جائز نه دی، که ضرورت زيات وي نو په مسجد کي دی غټ لوښي کښيږدي په هغه کي دی کښيني ودی لامبي په داسی ډول چي په مسجد کي کارول شوی اوبه ونه لويږي يادی لاس پاک(تولیه) لوند کړي بيادی ونښتيځي پر بدن دی ومږي، په ځو ځله داسی کولو به بدن پاک شي.

(احسن الفتاوی پاکستاني ج۴ص۴۹۷درد المحتار ج۲ص۱۸۱ په حواله)

**ايا معتکف دلمبېدلو لپاره اوبه تودولاي شي**

پوښتنه: داوبو دسړوالي په وجه معتکف دغسل لپاره (دجمعي يا جنابت) دمسجد په څلور ديوالي کي اور بل کړي اوبه ګرمولای شي اوکنه، سړي اوبه تاوان وررسوي؟

ځواب: معتکف دجنا بت(ناپاکی) دغسل لپاره وتلا ی شی دبل غسل لپاره اجازه نشته، تودی اوبه ورکونکي که څوک نه وي نو پخپله دمسجد په احاطه کي کولای شي. شرعي اړتياده. ځکه نو په اعتکاف کي هيڅ تاوان نه راځي. (فتاوی رحيميه ج۵ص۴۰)

**دبولو لپاره تلونکي معتکف غسل کولاي شي اوکنه**

پوښتنه: که معتکف دکومي شرعي يا طبعي اړتيا له امله بهر ته ووزي مثلاً قضائي حاجت(متيازويابل شی) لپاره نوبيا ځي د ګرمي په وجه يا دخير و ليرې کولو لپاره تر استنجا کولو وروسته

یا له هغه مخکې لمبیدلای شي او کنه؟
ځواب: جائز نه دی: اعتکاف فاسدیږی، خو که غسل خانه له تنې سره نژدې وه او لمبلو تر اودس زیات وخت نه اخیستی نو دحاجت تر سره کولو وروسته دغسل اجازه شته، ددې صورت د اکیداې شی چې په مسجد کې دې جامې اوباسي یوائې په لنګ کې دې ولاړشي او تیا کې دې خلا صه کړي پر بدن دې اوبه وبیوی راودې وزی. نه دې صابون کاروی اونه دې بدن زیات مښي. په دې ډول پاکي خوبه ونشي مګر سړوالی حاصلیږی او که ومسجد ته په تګ تګ کې لاس پاک پر بدن کلک ومښي نو تر ډیره حده به پاکی هم وشي. (احسن الفتاوی ج۴ص۵۰۵)

## دمجبوریت په وجه دمړی دلمبولو لپاره وتل څنګه دی

پوښتنه: معتکف له مسجد څخه داړتیا لپاره ووزی مثلا ومړی ته دغسل ورکولو لپاره څوک نه وي یا دجنازی لمونځ ورکونکی څوک نه وی نو له مسجد څخه په وتلو دده اعتکاف ماتیږي او کنه؟
ځواب: له طبعی اوشرعی اړتیا پرته دنو رو اړتیاؤ لپاره وتل اعتکاف فاسده وی مثلا په مسؤله صورت کې دمړی دغسل یا جنازي دلمانځه لپاره یادګواهی ورکولو لپاره کله چې دامعلومه وی چې که ده ګوا هی ورنکړه نو دهغه سړی حق به ووهل شی، همدارنګه دډوبیدونکی یا سوځیدونکی دژغورنی په نیت ووزی نو هم اعتکاف ماتیږی خو ګنهګار کیږی نه. بلکه په دغه صورتو

کي وتل ضروري کيږي.
(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۸طحطاوي علی مراقی الفلاح ص۴۰۸ او۴۰۹په حواله)

**دجنازې دلمانځه لپاره وتل څنګه دي**

پوښتنه:معتکف ته معلومه شوه چي جنازه راغلې ده له مسجد ه وروتي اودجنازې لمونځ یې وکړ نوآیا اعتکاف مات شو ،که مات شو نو آيا ددی قضاء لازمه ده ،که ده نو دڅو مره ورځو ،آیا دجنازي لپاره وتل شرعي اړتیانه ده ؟

ځواب:دجنازي دلمونځ کولو ځاي که له مسجد څخه دباندي وي نو اعتکاف ماتيږي اولږ تر لږه ديوی ورځي قضاء لازميږي .که همت وي نو دپوره لسو ورځو قضاء دي راوړي په دي کي زيات احتياط دی دجنازي دلمانځه لپاره وتل په شرعي اړتيا کي داخل نه دي. (فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۰طحطاوی علی مراقی الفلاح ص۴۰۹ په حواله)

په معارف مدنیه مخ ۹۹کي دغه مسئله په دي ډول ليکل شوی ده علامه سهارنپوری رحمة الله علیه فرمائی:چي داحنافو مسلک دادی چي دمعتکف لپاره دناروغه پوښتنی یا دجنازې دلمانځه لپاره د اعتکاف له ځای څخه وتل جائز نه دی ولی چي دمریض پو ښتنه فرض نه ده اوهمدارنګه دجنازې لمونځ فرض عین نه دی بلکي فرض کفایي دی کو م چي نو ر وګړی یي اداکولای شی ،څکه نو معتکف ته وتل جائز نه دي.

صاحب ددرمختار وائي چي :په واجب اعتکاف کي له ضروري اړتيا پرته له اعتکاف څخه وتل حرام دی خو په نفلی اعتکاف

کي وتل جائز دی اعتکاف نه با طلیږی بلکي پای ته رسی یعنی دنفلی اعتکاف کومه ځانګړی موده نشته بلکي دلږوخت لپاره هی هم کولا ي شی معتکف چي کله له اعتکاف څخه ووزی هغه اعتکاف پوره کیږی. (معارف مدینه قسط ۱۰ ص۹۹)

## ایا په لاره کي معتکف دجنازی په لمانځه کی برخه اخیستلای شي اودناروغ پوښتنه کولاي شی

پوښتنه:معتکف دجنازی لمانځه اودمریض پوښتنی ته له مسجد څخه وتلا ي شی او کنه ،که یې له اوله دجنازی دلمانځه اودمریض دپوښتنی لپاره دوتلو نیت کړی وی نو جا ئز دی او کنه ؟

ځواب:داعتکاف په نذرکي دجنازي دلمانځه ،دمریض دپو ښتنی اودعلم ومجلس ته دحاضریدو لپاره دوتلو استثناء صحیح ده اووتل جائز دی په دی شرط چي دنذر په شان یي استثناء هم په ژبه کړی وی یواځي دزړه نیت کفایت نه کوی ،خو که یې په سنت اعتکاف کي دانیت وکړ نو هغه نفل ګر ځي سنت نه اداکیږی .مسنون اعتکاف یواځي هغه دی چي پکي هیڅ استثناء نه وی .په هغه کي وتل فساد راولی خو بولو ته ورته اړتیا ؤ لپاره وتلو وروسته که په لاره کي ولیدل چي دجنازی لمونځ پیل کیږی نو په هغه کي بر خه اخیستلای شی .له لمانځه مخکی اوله لمانځه وروسته هلته دریدل جائز نه دي ،دغه رنګه دبولو داړتیا پوره کولو لپاره پر خپله لاره په روانه روانه کي پر مریض پوښتنه کولای شی ،دناروغ دپوښتني اوجنازي دلمانځه لپاره له لاری

کوم پلو ته اوښتل يادريدل جائز نه دي. (احسن الفتاوی پاکستانی ج۴ص۵۰۰)

**ايا معتكف داذان كولو لپاره تللاي شي**

پوښتنه: آيا معتكف داذان كولو لپاره داذان كولو ځاى ته تللاي شي او كنه؟

ځواب: كه داذان دكولو دځاى دروازه په مسجد كي دننه وي نو هلته معتكف په هرحال هر وخت تلاى شي اوكه دروازه له مسجد څخه دباندي وي نو يواځي داذان كولو په غرض تلاى شي.

(احسن الفتاوی ج۲ ص۴۹۸ دردالمحتار ج۲ص۲۸۱ په حواله)

**ايا معتكف بل ځاى ته دقران وراورولو لپاره تللاي شي**

پوښتنه: زيد هميشه درمضان المبارک په آخرنی عشره کي اعتكاف كوي. سږ كال تازه حالت داراوږاندي شو چي له زيد څخه دنواب صاحب په كوركي قرآن كريم په تراويحو كي داورولو لپاره تگ غوښت غواړي، داسي جائز دي اوكنه؟

ځواب: كه داعتكاف پر وخت دانيت وكړي چي زه به په تراويحو كي دقرآن كريم اورولو لپاره ځم نو داجائزدي.

(فتاوی دارالعلوم ج۲ص۵۱۲ دعالمگيری مصری كتاب الصوم باب السابع ج۱ص۱۹۹په حواله)

**ايا معتكف په مسجد كي دمريض په كتلو نسخه ورليكلاي شي**

پوښتنه: معتكف په مسجد كي دناروغه په كتلو يا دحال په اوريدلو نسخه ليكلاي شي اوكنه، داغه رنگه كه معتكف دطبعي اړتيا لپاره دباندي ولاړشي نو بهر ديو مريض پر پوښتنه دواور ښودلاي شي كنه؟

ځواب:معتکف په مسجد کي دناروغه په کتلو اوحال اوريدلو
نسخه ليکلاي شی اوعلاج کولاي شی .اومعتکف که دطبعی
اړتياڵپاره له مسجد څخه دباندی ولاړشی اوکوم مريض خپل حال
ورته ووايي اوددواپوښتنه ورځينی وکړی نو وربنودل جائز دی.
(فتاوی دارالعلوم ج۷ص۵۰۲:ردالمحتار باب الاعتکاف ج۲ص۱۸۴، ص۱۸۵په حواله)

## دمقدمي دنيتي لپاره دمعتکف وتل څنګه دی

پوښتنه:يو سړی معتکف دی اوپه آخری عشره کي دده ديوی
مقدمي تاريخ دی په دغه ورځ په محکمه(کچاری) کي دده
حاضری ضروری ده په مسئله صورت کي دغه معتکف، د
مجبوريت له کبله ومحاکمي ته حاضری ورکولای شی اوکنه؟
ځواب:دمقدمی لپاره که ووزی نو دده سنت مؤ کده اعتکاف
فاسديږی که له مجبوری وزی نو نه ګنهګار يږی اودصاحبينو
(امام ابو يوسف اوامام محمد رحمهما الله) دمسلک سره سم که
تر نيمه ورځ زياته دباندی نکړی تيره نو اعتکاف نه فاسديږی په
داسي مجبوری کي دغه مسلک عملی کول کيداي شی.
( فتاوی رحيميه ج۵ص۲۱۱دمراقی الفلاح ص۴۰۹په حواله )

## ايا معتکف دحکومتي وظيفي اخيستلولپاره وتلاي شی

پوښتنه:دلته په (برطانيه ،لندن) کي کارکونکی ښا غلی دير کم
اعتکاف کوی زياتره هغه خلک معتکفان وی کوم چي په فابريکه
( کارخانه) اونورو کي کارکوی ،خوداسی خلکوته په هفته کي
يوځل په حکومتی دفتر کي تر امضاء کولو وروسته پيسي

ورکول کیږي همدغه ددوی تنخواه ده ،که دفتر ته ورنشی نو وظیفه نه ورکول کیږي نو دلاس لیک ـلپاره آیا معتکف تللاي شی ؟

ځواب:که بیله دی دده ګذاره نشوه کیدلای بیا خو تلای شی اوتر دستخط کولو وروسته دی سمدستی مسجد ته راشی ،او احتیاطا دی وروسته دیوی ورځي داعتکاف قضاء هم راوړی.
اوکه بیله دی دده ګزاره کیدله نو دتګ اجازه نشته ،که ولاړشی نو اعتکاف ماتیږی.اوداعتکاف ماتولو ګناه به هم وی.
( فتاوی رحیمیه ج ۵ص۲۱۲ )

## دو ښتانو جوړولو اومستحب غسل لپاره وتل څنګه دی

پوښتنه:دمعتکف لپاره داسی شیان کوم چي دپاکی سره تړاو لری دمثال په ډول دسرو ښتان جوړول یامستحب غسل کول ددغو لپاره له مسجد څخه دباندی وتل جائز دی اوکنه ؟
ځواب:دمعتکف لپاره دسر خریلو یا مستحب غسل کولو لپاره له مسجد څخه بهرته وتل صحیح نه دی اعتکاف فاسد وی ،که سر خریل ضروري وي نو داعتکاف په ځای کي ځادر اونور غوړوی سر خریلای شی اوپوره احتیاط دی کوی چې وښتان اونور په مسجد کي ونه لویږی (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص۲۰۱) په حواله دعالمګیری ص:۲۱۵ج:۲

## په مسجد کي دوښتا نو جوړول څنګه دی

پوښتنه:دمعتکف لپاره په مسجد کي وښتان جوړول جائز دی کنه ؟

ځواب: ځیل ویښتان پخپله جوړول جائزدي او په نائي جوړولو کې داتفصیل دی چې که بیله اجورې کارکوی نو په مسجد کې دننه جائزدي او که یې په پیسو کوی نو معتکف دی په مسجد کې دننه وی اونائي دی له مسجد څخه دباندې کښینی ویښتان دی ورجوړکړی، په مسجد کې دننه په مزدوری کارکول جائزنه دی.

(احسن الفتاوی پاکستاني ج۴ص۵۰۲)

**ایا معتکف دسګریټو بیړیو اونوروډکښلو لپاره وتلائ شي**

پوښتنه: معتکف دبیړی څکولو عادی دی په شپه کې تر لس ځله زیات بیړی څکوی نو داپه طبعی اړتیا کې داخل دی اوکنه ا وددی لپاره دوتلو شرعا اجازه شته اوکنه اوکه اجازه وی نو خوله پاکول کفایت کوی که به اودس هم کوی؟

ځواب: له اعتکاف کولو مخکې دی دبیړی پرېښو دلو کو ښښ وکړی که په دی کامیاب نه شو نو شمیر اومقدار دی کم کړی اوکه و څکولو ته بیا هم مجبور وی نو کله چې داستنجاء اوپاکي لپاره ووزی هغه وخت دی دبیړی اړتیا تر سره کړی یواځی دبیړی لپاره دی نه وزی.

خوکله چې مجبورشی اودطبیعت دخرابیدو ویره وی نو ددی لپاره هم وتلاي شی چې په داسی اضطراری حالت کې داهم په طبعی اړتیا کې شمیرل کیږی اواعتکاف نه فاسدوی.

په فتاوی رشیدیه درېیم ټوک مخ ۵۷ کي دي دمعتکف لپاره جائز دي چي دماښام ترلمانځه وروسته بهرته ولاړشي چلم وڅکوی خوله دي پرېمنځي بوی دي لیري کړي مسجدته دي راشي.

(فتاوی رحیمیه ج۵ص۲۰۲)

## دمجبو ریت په وجه په اعتکاف کي کار کول ځنګه دي

پوښتنه:دبنده سره په ډاکخانه (دلیک لیږلو ځای) کي کار دی آیا داعتکاف په حالت کي دډاکخاني کار کولاي شم کله چي په خوله خبری ونه کړم؟

ځواب:دمعتکف په مسجد کي داعتکاف لپاره اوسیدل ضروری دی بیله دی دده اعتکاف نه شی کیدلاي ددرمختار له روایت څخه معلومیږی چي دمعتکف لپاره په مسجد کی هستوګنه ضروری ده ،متیازو غولو ،دجنابت دغسل ،دجمعي اونورو لپاره وتل جائزدی په همدی وجه په مسجد کي دننه داړتیا له امله دډاکخانی کارکول یاپه خوله خبری کول جائزدی ،خودډاکخاني دکارو په وجه له مسجد څخه وتل اعتکاف فاسدوی .اود اعتکاف پر مهال پټه خوله کښیستل ضروری نه دی .خو بیله اړتیا اوبیهوده خبری مکروه دی.

(فتاوی دارالعلوم ج۶ص۵۱۳درد المحتار ج۲ص۱۸۵باب الاعتکاف په حواله)

## معتکف که کوروالی اونوروکړی نوڅه حکم دی

جماع(کوروالی) اونور کول خوا که قصدا وی اوکه په هیره د اعتکاف دپامه وتلو په وجه په مسجد کي وکړل شی یا له مسجد

څخه دباندی.په هرحال کي اعتکاف باطليږی ،اوکوم کارونه چې زیاتره دکوروالی باعث گرځی دمثال په ډول ښکلول ،یا مباشرت فاحشه (غاړه په غاړه۔) کیدل اونور هغه هم داعتکاف په حالت کي ناجائز دی مگر په دغو اعتکاف نه باطليږی تر څو چي منی راونه وزی.هو که په دغو کارو نو منی راووزی نو بیا اعتکاف فاسدیږی ،خوکه یواځي په خیال اوفکر منی راووزی نو اعتکاف نه فاسدیږی (بهشتی زیور حصه ۱۱ص۱۰۹) ( دشرح البدایة ج۱ص۲۱،شرح التنویرج۱ص ۱۵۸ په حواله اوپه کتاب الفقه ج۱ص۹۵۰ کي دامسئله مطرح ده.

داعتکاف په حالت شهوت راپارونکی حرکتونه کول حرام دی.هو که یواځی په فکر یا کتلو یااحتلام انزال وشی نو اعتکاف نه باطليږی خواکه داسی کیدل دده عادت وی اوکنه وی.

## معتکف که له اعتکاف ځای

## څخه دباندی وایستل شی نوڅه حکم دی

که کوم څوک په زورله اعتکاف ځای څخه وایستل شی نو دهغه اعتکاف پر ځاي نه پاتیږی دمثال په ډول په کوم جرم کي دوالی له لوری حکم وشو چي پولیس دي دي بندی کړی یا کوم قرض ورکونکی دي دباندی راوباسی ،دغه رنگه که دکومی شرعی یاطبعی اړتیا لپاره ووزی اوپه لاره کي یې کوم پورورکونکی تینگ کړی یا ناروغه شی اوداعتکاف ترځای په رسیدوکي وځنډیږی نو هم اعتکاف پرځای نه پاتیږی.

(بهشتی زیور حصه ۱۱ص۱۰۹ ادشامی ج۱ص ۱۸۲ په حواله )

## معتکف که لیونی یا بیهوښه شي نو څه حکم دی

دامام اعظم رحمة الله عليه په نزد پر معتکف که ترڅو ورځو بیهوښی راشي نو اعتکاف فاسدیږي دغه هم دلیونتوب حکم دی. خو که دښي حالت په شپه کي راشي نو اعتکاف نه فاسدیږي.دغه رنګه په ښکنځلو جنګ اوجګړو اونورو ګناهونو اعتکاف نه فاسدیږي (کتاب الفقه ج۱ص۹۵۴)

## ایا معتکف کوم دنیاوی کارکولای شي

داعتکاف پر مهال بیله اړتیا په کوم دنیاوی کار بوختیدل تحریمي مکروه دی مثلا پیرل پلورل یادتجارت کوم کارکول ،هو که کوم کار ډیر ضروري وی مثلا په کورکي دخوراک، شئ نه وی اوله ده پرته دده ور راتیونکی بل څوک نه وی په داسی حالت کي رانیول خرڅول جائزدی مګر کوم شئ چي رانیول شوی وی هغه مسجد ته راوړل په هیڅ حال کي جائزنه دی په دی شرط چي دهغه ومسجدته په راوړو دمسجد دخرابوالی یالاری بندیدو ویره وی ،هو که دمسجد دخرا بیدو یادځای نیولو ویره نه وی نو دځینو په نزد جائزدی (بهشتی زیور حصه۱۱ص۱۱۰دشرح التنویرج۱ص۱۵۷ په حواله)

## دزیات نه واقع کیدونکی عذر حکم

کوم عذر چي زیات نه واقع کیږی دهغه لپاره خپل داعتکاف ځای پریښودل داعتکاف ضد یعنی جائزنه دی ،مثلا دکوم ناروغه دپو ښتني لپاره یادکوم ډوبیدونکی دژغورلو لپاره یاداور وژلو لپاره یا دمسجد دړنګیدو له ویری نو څه هم په دغه صورتونو کی له

اعتکاف ځای څخه وتل ګناه نده بلکه دځان ساتلو په غرض
ضروری دی خو اعتکاف پر ځای نه پاته کیږی.
(بهشتی زیور حصه۱۱ص۱۰۹دشامی ج۲ص۱۸۳په حو

## ځینی فاسدونکی اونه فاسدونکې شیان

پوښتنه :لاندنی لیکل شوی شیان مسنون اعتکاف فاسدون
دی اوکنه ؟(۱) له اودس مخکی بیله قصده اودس ،داوداسه
ځاي په صابون لاسونه مخ پریمنځل ؟
(۲)تراودس وروسته داوداسه پرځای په ولاړه داودس اوبه
دسمال وچول.
(۳)له اودس مخکی دلاس ساعت (ګړی) داودس پر ځاي له لاس
خلاصولو وروسته په جیب کي اچول بیا اودس کول یاداودس
ځای داودس لپاره دختلو پرمهال له لاسه ساعت ایستل اوپه جیب
کي اچول
(۴) تر تېې دباندی خلک په قطارکی ولاړدی نو هلته په انتظار
دریدل.
(۵) تر اودس مخکی داودس پر ځای خپله ټوپی ( خولی)
یادستمال په میخ راځړول.
(۲) له کور څخه کوم ډوډی راوړونکی نه وی نو دډوډي راوړلو
لپاره کورته تلل.
(۷) دډوډی لپاره وکورته په رسیدو معلومه شوه چي ډوډی
تیاریدل لږ وخت غواړی دهغه انتظار کول.

۸) احتلام وشو اوسړي اوبه تاوان پيښوي نو داوبو تودولو
اره له مسجد څخه وتل يا دتودو اوبو راوړلو لپاره کورته تلل
ملته داوبو دګرميدو په انتظار دريدل.
)داعتکاف پر مهال ناروغه شو ،اودواورکونکي څوک نشته.
)ډاکټرته ورتګ ضروري وي نو ددواليپاره له مسجد څخه وتل.
عي حکم څنګه دی ؟
ابه (۱) او(۲) اعتکاف فاسديږی (۳) تر(۷) جائزدی .(۸)
زدی . داحتلام په حالت کي دتودو اوبو په انتظار په تيمم
لوپه مسجدکي دريدل جائزنه دي .سمدستي دی له مسجد
ه ووزی .له مسجد څخه دباندی داوبو توديدو په انتظار
دل جائزدی:
ددواليپاره په وتو اعتکاف فاسديږی اوددی ورځې قضاء
ه ده ،خو دسخت مجبوريت په صورت کي په وتلو ګناه نه
ی ،اعتکاف په هر حال فاسديږی اوقضاء لازميږی.
(احسن الفتاوی پاکستانی ج۴ص۵۰۸دردالمحتار ج۲ص۱۴۵په حواله )

**که معتکف په هيره له مسجد څخه ووزی نو څه حکم دی**

تنه‌که په هيره معتکف له مسجد څخه ووتي نواعتکاف
ديږی اوکنه ؟
به‌په هيره په وتو هم اعتکاف فاسديږی.

(احسن الفتاوی پاکستانی ج۴ص۴۹۷دردالمحتار ج۲ص۱۸۲په حواله )

په هیره په وتو هم خپل داعتکاف مسجد دیوی دقیقي بلکې
ترډی هم په کمه پرېښودل جائزنه دی.
(بهشتی زیور حصه ۱۱ص۱۰۹دشرح بدایة ج۱ص۲۱۰ په حواله

## دمعتکف لپاره ښې خبرې

داعتکاف په حالت کي یومخ پته خوله کښیناستل هم تحریم
مکروه دی.هو ناوړه خبری دی تر خوله نه باسی دروغ دی نه وایې
،غیبت دی نه کوی بلکې دقرآن شریف په تلاوت یادکوم دینی علم
په لوستلو یازدکړه ورکولو یادی په کوم بل عبادت کي وخت تیرا
وی لنډه داچي پته خوله کښیناستل هیڅ عبادت نه دی.
(بهشتی زیور حصه ۱۱ص۱۱۰دشرح البدایة ج۱ص۱۲۹ په حواله

## دښو خبرو یو لنډ سر لیک

(۱) قرآن کریم لوستل (۲) په درودشریف ،استغفار اوتسبیحات
مشغولیدل ،(۳) ښې خبری کول دهغوی زده کول ښودل ،ددینې
کتابونو مطالعه کول اوریدل اورول (۴) وعظ اونصیحت کو
(۵) په جامع مسجد کي اعتکاف کول(رمضان کیا هي ص۱۴۸)
په اعتکاف کي کوم ځانګړی عبادت شرط نه دی .لمونځ ،دقرآ
کریم تلاوت ، ددینی کتابونو زدکړه اوښودل یا ذالله "ذکر کو
لنډه داچي کوم عبادت یې زړه وغواړی کوی دی.
(احکام رمضان المبارک دارالعلوم ص

## د اعتكا ف مكرو ها ت

(۱)پټه خوله خاموشه كښينستل اوداښه كار بلل ،نن سبا ناپوه خلک په اعتكاف كي پټه خوله كښينستل هم څه دثواب خبره بولی
(۲) جنګ جګړه چيغي نعری وهل اوبيهوده بي معنی خبری كول.
(۳) دزانيولو خرڅولو لپاره كوم شئ مسجد ته دننه راوړل.
(رمضان كيا هي ،ص۱۴۹)

## داعتكاف اداب

## داعتكاف په ادابوكي داشيان دی

(۱) معتكف دی له اغوستو جامو پرته نوری جامی هم دځان سره راوړی ،ولی چي ځينی وختونه (دجامو بدلولو ) اړتياپېښيږی .(
۲) كه داعتكاف موده تراختره ورسيږی نو داختر شپه دی په مسجد كي تيره كړی ترڅو له مسجد څخه ووزی دعيدګاه پرلور روان شی اويو عبادت ( اعتكاف ) له بل عبادت (داختر لمونځ) سره يو ځای شی.
(۳)دمسجد په دننی برخه كي دی هستوګنه كوی (اعتكاف دی كوی ) تر څو په خبرو اترو په اعتكاف كي خلل واقع نه شی.
( ۴) اعتكاف دی دروژی په مياشت كي وی .دغه رنګه دقدر دشپی دموندلو په هيله دی په آخيری لس ورځو كي وی چي په هم دغه ورځو كي دقدر دشپی غالب ګومان دی:
(۵)اعتكاف دی تر لس ورځی كم نه كوی:

(۶)له نبو خبرو سوادی بله کومه خبره نه کوی.
(۷)داعتکاف لپاره دی ترټولو ښه مسجد انتخاب شی مثلا مسجد حرام ترڅی وروسته مسجدنبوی بیامسجداقصی اوداهغو خلکو لپاره دی چي هلته هستوګنه کوی ترڅی وروسته دجامع مسجد درجه ده.
( ۸ ) داعتکاف پر مهال دی دقرآن کریم په لوستلو ،دحدیث په مطالعه په دینی علومو دهغوی په تعلیم اونورو مشغول وی.
(کتاب الفقه ج۱ص۹۵۴)

## داعتکاف منع شیان

داحنافو په نزد په اعتکاف کي څو شیان تحریمی مکروه ی.
(۱) په دی خیال پټه خوله کښینستل چي په دی کي زیات ثواب دی ،که داخیال نه ؤ نو مکروه نه دی .هو پټه خوله پاتی کیدل دزبي له ګناه څخه دځان ساتلو لپاره تر ټولو غټ عبادت دي.
(۲ )ومسجدته دخرڅولو لپاره سا مان راوړل تحریمی مکروه دی ، خودرانیولو خر څولو معامله دی کومه چي دده اودده دبچیا نو لپاره ضروری وي په مسجد کي وکړله شی خو سامان دی مسجد ته نه راوړی.نو جائز دی لیکن تجارتی معاهده په مسجد کي جائز نه ده. (کتاب الفقه ج۱ص۹۵۲)

## دیوی غلطی خبری لیری کول

ځینی خلک داګنی چي اعتکاف کونکی چي دکومی اړتیا لپاره ... ی ووزی نو دهغه سره خبری اتری کول جائز نه دی داغلط دی

په روانه روانه خبرې اترې کول جائز دي :هو دخبرو لپاره یا دکوم بل کار لپاره دریدل جائز نه دی. (رمضان کیاهي ؟ص\۱۵)

## اعتکاف او حنفي مذهب

داحنافو په نزد دمعتکف له مسجد څخه دباندي راوتلو دوه صورتونه دي

(۱) واجب اعتکاف که دنذروی په دی صورت کي له مسجد څخه وتل مطلقا جائز نه دی که شپه وی او که ورځ وی. قصدا وی که په هیره ،نو که کوم سړی له کوم مجبوریت اوداسی عذر پرته په کوم کي چي داعتکاف نذر منونکی لپاره دباندی راوتلو اجازه نه وی له مسجد څخه دباندی راوواتی نو دده اعتکاف ماتیږی.

## له مسجد څخه ددباندی راوتلو دری قسمونه دی

(۱) دفطری عذر په وجه وتل لکه دبولو لپاره یا احتلام وشی او په مسجد کي غسل کول شونی نه وی اونور په داسی صورت کي دی معتکف یواځی دجنابت دغسل لپاره یا یواځي دبولو داړتیاد تر سره کولو لپاره له مسجد څخه ووزی اودهمدومره وخت لپاره چي دامقصد پکی پوره شی.دشرعی عذر په وجه له مسجد څخه وتل مثلا داچي په کوم مسجد کي اعتکاف کوی په هغه کي دجمعي لمونځ نه کیږی اود جمعي دلمانځه لپاره بل مسجد ته تلل وی نو په داسی صورت کي دی دومره وخت مخکی له مسجد څخه ووزی چي هغه مسجد ته په رسیدو دخطبي تر اذان مخکي څلور رکعته اداکولاي شی اودلمونځ تر اداکولو وروسته دی دومره

.وخت هلته پاتې شي چي پكي ځلور يا شپږ ركعته كولاي شي كه
تردې زيات هلته پاتې شو نو اعتكاف نه فاسديږي ،ولي چي په
دې دوهم مسجد كي هم اعتكاف كيدلاي شي .خوداسې كول
تنزيهي مكروه دي ځكه چي په پيل كي چي چيرې اعتكاف كول
غوره كړي ؤ بيله اړتيا دهغه په خلاف وكړل شو .
دمجبوريت دعذر ونو له امله وتل مثلا په كوم مسجد كي چي
معتكف دى هلته دځان اومال خطر ورپيښ دى يا مسجد ړنګيږي
نو په داسې صورت كي دى له مسجد څخه ووزي سمدستي كوم
بل مسجد ته داعتكاف په نيت تلل په كاردي.
( ٢ ) دوهم صورت دادى چي اعتكاف ( دنذر نه بلكې ) نفلي دى
په داسې صورت كي بيله عذر هم له مسجد څخه وتل پروانه لري ،
ولي چي په نفلي اعتكاف كي داسې نه وي چي په دومره وخت له
مسجد څخه دباندې تيرولو دى اعتكاف باطل شي ( په نفلي
اعتكاف كي ) له مسجد څخه په دباندې راتلو مخكني اعتكاف
نه باطليږي بلكي پاى ته رسيږي :ځكه نو كه مسجد ته بيرته
راغلى بيايي اعتكاف وكړ نودهغه ثواب به جلاوى ،خوپه واجب
اعتكاف كي بيله عذر له مسجد څخه بهرته .راتلل ګناه ده
اومخكنى اعتكاف باطليږي .داحكمونه په هم هغه حالت كي دي
كله چي اعتكاف واجب وى اوپر لپسې ددغو ورځو داعتكاف
نيت كړل شوى وى:كه يې يواځي داعتكاف دنذر نيت كړى ؤ يايي
ئې خانګړى مودى داعتكاف نيت كړى ؤ خو دپر لپسې قيد

ورسره نه ؤ نو په داسې صورت کې داعتکاف پرمهال له مسجد
څخه بېله عذر دباندې راوتل جائزدي ،خوپه راوتلو سره هغه
اعتکاف ختميږي اوبيرته به راځي داعتکاف نيت به کوي.هو که
يې له مخکې څخه دبيرته راتلو نيت کړي ؤ يا له مسجد څخه وتل
داړتيا دپوره کولو لپاره ؤ نو له نوي سره ونيت ته اړتيا نشته
.همدغه حکم دنفلي اعتکاف دی. (کتاب الفقه ج۱ص۹۵۳)

## دټولنيز اعتکا ف ثبو ت

پوښتنه:آيا داعتکاف اهتمام له صحابه کرامو ﷡)څخه ثابت دی
ځواب:لومړی خو کوم شی چې داعتکاف مقصد ده هغه وصحابه
کراموته دتګ راتګ دبوختيا ؤ سره حاصل ؤ، نن هغه شئ په
اعتکاف سره په ګرانه ولاس ته کيږي.خو بيا هم له دغو ښاغليو
څخه داعتکاف اهتمام ثابت دی.
په مسلم لومړی ټوک مخ۳۷۰کي دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم
درمضان دلومړی عشرې اعتکاف وکړ ،بيا يې ددوهمې عشرې
اعتکاف وکړ ،بيا يې وفرمايل چې مادلومړی عشرې اعتکاف
دقدرشپې دپلټنې لپاره کړی ؤ: بيامې ددوهمې عشرې اعتکاف
هم ددې لپاره وکړ،بيا وماته کوم ښودنکی ( ملائکې ) وښودل
چې هغه په آخرنۍ عشره کيده.( ځکه دآخرې عشرې اعتکاف کوم
) څوک چې په تاسو کي اعتکاف کول غواړي ودې کي ،ځکه ده
مبارک (دآخرې عشرې اعتکاف وکړ صحابه کرامو)هم له ده سره
اعتکاف وکړ. په بخاري( ج۱ص۲۷۱ ) کي داسې الفاظ دي ،کومو

خلکو چي له ماسره دلومړی عشری اعتکاف کړی دی هغوی دآخری عشری اعتکاف هم وکړی.
له مسلم ( ج١ص٣٧١ ) څخه معلومیږی چي دنبی صلی الله ع وسلم دبي بی ګانو لپاره هم خیمي ولګول شوی: ګواکي نبی ص الله علیه وسلم داخوښه نه کړه په دی وجه ددوی دنامخلصه کیا اندیښنه ورته وشوه ،یا دغیرت په وجه چي په مسجد کي نارینه هم وی ،منافقان ، صحارایان هرډول خلک به راځی ،بیا دانسانی اړتیاؤ لپاره وتل هم ضروری وی.یا په دی وجه چي د مبارک ددوی سره په مسجد کي کیدل داعتکاف مقصد چي ا دنیا اومیرمنو څخه ګوښه کیدل به فوت شی.( نووی شرح مسل لومړی ټوک مخ ٣٧١ )مأخوذ ازملفو ظات فقیه الامت ص٦٦ قسط ثالث حضرت مولانا محمود حسن صاحب مدظله د دارالعلوم دیوبند مفتی اعظم )

## د اعتکا ف مستحبا ت

داعتکاف اداب اومستحبات دادی ددغو پوره خیال وساتی تر څو مو حقیقی برکتونه اوګټی په برخه شی ( ١ ) په اعتکاف کي نیکی اوښي خبر ی کوی.
( ٢ ) درمضان المبارک دآخري پوره عشری داعتکاف کولو هڅی کوی.
( ٣ ) ترخپله وسه په جا مع مسجد کي اعتکاف کوی.

(۴) دخپل توان سره سم خپل وختونه زیات نه زیات په الهي عبادت کي صرفوی مثلا نفلونه کوي ،دقرآن کریم تلاوت کوی ،ددینی علم دصحیح اوسند درلودونکیو کتابونو مطالعه کوي درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاک سیرت دانبیاء علیهم السلام صحیح کیسي دصحابه کرامو ائمه وو اواولیاؤ الله رحمهم الله حالات اوحکایات دهغوی دوېناؤ اوملفو ظاتو مطالعه کوی ،دشرعی مسئلو کتابونه لولی.خو په کومه خبره چي پوه نشی پخپله تأ ویل یا مطلب مه راباسی بلکی له کوم معتبر عالم څخه دهغی په مطلب ځان پوه کړی.

(۵) مسنون ذکرونه وواياست:څومره تسبیحات چي په هو سایي سره ویلائ شی تر ټولو غوره دی. تسبیحا ت دا دی:

سبحان الله ، الحمد لله ، الله اکبر ،لااله الا الله محمد رسول الله لاحول ولاقوة الا بالله.

اوهراستغفار چي مو په یادوی هغه واياست مثلا استغفر الله یا استغفر الله ربی من کل ذنب واتوب الیه یارب اغفر لی ، اوهر ذکر چي کوی په توجه اوفکر سره یې کوی.

(۶) درود شریف ډیر واياست ،تر ټولو غوره درود هغه دی کوم چي په لمانځه کي ویل کیږی.(۷) دصلوة التسبیح په کولو لس ډوله ګناهونه معافیږی ،څکه نو هره ورځ یي کوي.

(۸) داشراق ،څاښت ،سنن زوال ،اوابین اودتهجد دلمانځه بشپړ خیال ساتی ،تحیة المسجد اوتحیة الوضوهم مه پرېږدی (

۹) دسهار له لمانځه څخه تر اشراق پورې او دمازدیگر تر فرض وروسته دلمرتر لويدو پورې دالله" ذکر کوي (۱۰) دقدر دشپې پ پنځو شپو کي په ويښه دعبادت کولو هڅې کوی .اودمناجات مقبول يو منزل هره ورځ واياست ،په دی کي دقرآن اوحديث ډيرې ښې دعاګانې راغونډې کړل شوې دي.

(۱۱) په اعتکاف کي پرده اچول اونه اچول دواړه ډوله له نبی صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دی :که له پردې اچولو څخه درِيا ،کبر اونور پيداکيدو ويره وی نو مه يې اچوی اوکه ددغو شيانو انديښنه نه وی نو دګوښه توب لپاره پرده اچول غوره دی ،خو کله چي دفرض لمانځه جماعت پيل کيږي او دپردې په وجه په جمع کي دخلل رامنځ ته کيدو و خطره وی نو پرده پورته کول په کاردی بلکي بستره اوسامان هم پورته کول په کاردی.

( ۱۲) ترڅو چي شونی وی ونورو اعتکاف کونکيو اولمونځ کونکو ته دی په کړو اووينا اوپه هيڅ ډول عمل له ستونزو رسولو څخه سخت احتياط وکړی. (عالمگيری اوفتح القدير )

## داعتکا ف مبا حا ت

ځينی خبرې داعتکاف په حالت کي دمعتکف لپاره جائز اومباح دی

(۱) معتکف ته په کاردی چي په مسجد کي دی خوراک څښاک کوی هلته دی ويدېږی .پريوزی ،کښينی اوارام دی کوی ...لی خبرې په مسجد کي صحيح دی (ردالمحتار )

(۲)دخپلو بچیانو په اړه یادرانیولو خرڅولو خبرې هم داړتیا په اندازه جائز دی .(۳) معتکف دخوراک څښاک مختصر شیان اوداړتیاؤ سامان هم له ځان سره ایښو دلاي شي خو دومره دی نه وی چي دوکان تری جوړکړی یا دځای نیولو په وجه لمونځ کونکی تنګ شی اودلوستلو لپاره دینی کتابونه هم ایښودلاي شی . (ردالمحتار )

( ۴ )که دخوراک څښاک یاکوم داړتیاد شئ رانیول وی نو هغه دکتلو لپاره مسجدته راغوښتلاي شی تر څو کوم بیکاره شی رانشی. (ردالمحتار )

( ۵ ) دمعتکف لپاره مختصره بستره ،دږوږی خوړلو ،اوبه څکلو ،دلاس اونورو پریمنځلو دلوښی ایښودلو اجازه شته:(ردالمحتار )

( ۲) معتکف که تجاریا فابریکه ( کارخانه ) درلودونکی وی نو وخپل ځاي ناستی ته یا لاندی نو کرانو ته دتجارت ضروری لارښودنی کولا ي شی اودهغه په اړوند خبری هم پوښتلاي شی ۔ که دکوم رانیونکی سره ضروری خبری کول وی نو داړتیا په اندازه دسودا په اړه خبری کولو ګنجائش شته. (بدائع )

( ۷) معتکف جامی بدلولاي شی ،عطر کارولاي شی ،په سر اوږیره تیل وهل ږمونځول ټولی خبری جائزدی.(بدائع )

(۸) په حالت داعتکاف کی معتکف خپله یادبل نکاح کولای شی ،که وښځي ته رجعی طلاق ورکړی وي نو په خوله هغي ته رجوع کولاي شی. (بدائع )

(۹) معتكف كه خپل سر ،ږيره يا دبدن كومه حصه پريمنځل وغواړي يا خوله پريمنځي نو ددي خبرو پوره خيال دى ساتى چې په وينځتانو اوكارول شويو اوبو دى مسجد بالكل نه ككړه وى ،په تيلو دى دمسجد ديوالونه ،صفونه ،انګړ بالكل نه خرابوى كنې منع كيږى (بدائع)

(۱۰) معتكف كه دځان هو ساه كولو په نيت يا طبعا يا بي له اړتيا خبرو څخه دځان ژغورنى لپاره پټه خوله كښيني نو جائز بلكى غوره دي

(۱۱) داعتكاف پر مهال دينى خبرى كول دثواب باعث دى اوداسى خبرى كول چي په كي ګناه نه وى مباح دى ،داړتيا په اندازه ددنيا خبرى كول هم نه دى منع ،خو خبرى كول دى خپل كار نه جوړوى (حاشيه شرنبلالى)

(۱۲) ومعتكف ته دنو كانو پرى كولو ،بريتو سمولو ،دسر وينښتانو جوړولو اجازه ده خو چي په مسجد كي نو كان ،وينښتان ،اوبه اونور بالكل ونه لويږي (فتح البارى)

تشريح: داخبرى هغه چاته رامخته كيږى څوك چي بر لپسى ديوى مياشتى يا زيات اعتكاف كوى ،كني دلس ورځود اعتكاف كونكو لپاره په دغو شيانو ځان اخته كول ښه نه دى داكارونه تر اعتكاف وروسته هم كيدلاي شى .وماشومانو ته بيله اجورى دقرآن كريم اودين زده كړه وركول داعتكاف په حالت كي صحيح (بحرالرائق)

## ومعتکف ته دمیر منو را تلل

ومعتکف ته که داعتکاف په حالت که کوم ضروری کاروی نو کوروالا یا له محرماتو څخه مثلا مور ،خور ،اوداسی نور مسجد ته راتلای شی خودلمانځه وخت دی نه وی اوله پردی سره دی راځی لکه چي په حدیث شریف کي راغلی دی.) که ښځه یاله محرماتو څخه څه میر منی راغلی اوکوم بل څوک یي ووینی نو هم هغه وخت خبره صفا کول په کاردی چي له دوی سره زما خپلوی یا دازما کوروالاده تر څو بل څوک بدګمانه نه شی :له رسول الله ﷺ څخه همداسی ثابت دی.

## دا عتکا ف مکرو ها ت

په اعتکاف کي ځینی خبری مکروه منع دی اوځینی خبری ناجائز اوحرام دی :دهغوی ټولو څخه دځان ساتلو پوره خیال ساتی.

(۱) داعتکاف په حالت کي دمعتکف لپاره په قصد یا په هیره په شپه کي یا په ورځ په مسجد کي یا په کورکی دښځی سره کور والی کول ،مچی او غاړه په غاړه کیدل یا په شهوت ددی بدن ته لاس وروړل ټول حرام دی.

یادونه:-په پورتنی شیانوکي داعتکاف دماتیدو یانه ماتیدو مسئلی داعتکاف په فاسدونکیو کي بیانوو کوم چي په مخ کي راځي ،

(۲) ځینی خبری په هرحال کي حرامی دی ،خو داعتکاف په حالت کي په کي نوره هم سختی راغلی ده ،مثلا غیبت کول ،چغلی کول

،جنګ اوجګړې کول ،دروغ ویل ،اوددرو غو قسمونه اخیستل ،بهتان لګول ،وکوم مسلمان ته ناحقه تکلیف ورکول ،دچاعیب پلټل ،څوک رسواکول.دکبر اولویې خبرې کول ریا اونور کول له دغو اوپه دې ډول ټولو خبرو څخه ښه احتیا ط کوی (شامی)

(۳) کومې خبرې چې مباح وی دکومو په کولو چې نه ثواب وی اونه عذاب.داړتیا پر مهال دکولو اجازه ده.بې له اړتیا په مسجد کې ددنیا په خبروکولونیکیانې ضائع کیږی :( درمختار ) (۴) دمعتکف لپاره بیله اړتیا کوم سړی ومباح خبر وته رابلل اوخبرې کول مکروه دی اوخاص په همدې غرض مجلس جوړول ناجائز دی

## دمعتکف ورځپا نې لوستل

دمعتکف لپاره داعتکاف په حالت کې داسې کتابونه رسالې چې په هغوی کې ددروغو کیسې اوددین ضد خبرې وی ،داسلام په خلاف لیکنې وی ،بې حیا مضمونونه وی ،دغه رنګه ورځپانې ویل ،اوریدل ،دغه رنګه زیاتره ورځپانې له عکسونو خالی نه وی اودعکسونو مسجد ته راوړل جائز نه دی :ځکه له دې ټولو خبرو څخه دمعتکف لپاره ځان ژغورل په کاردی اودکوم مقصد لپاره چې یې اعتکاف کړی دی په هغه کې بوختیدل په کاردی.

(اعتکاف کې فضائل ومسائل)

دمعتکف لپاره یو مخ پټه خوله کښینستل اودا عبادت ګڼل تحریمی مکروه دی که یې عبادت ونه بولی نو مکروه نه دی.

(البحرالرائق)

تجارتی یا نا تجارتی سامان مسجد ته له راوړلو وروسته خرڅول یارانیول ناجائز دی اوبې له سختی اړتیا دپیرلو پلورلو خبری کول هم مکروه دی. (درمختار، بحر)
دمعتکف لپاره په مسجد کې دننه په اجرت اخیستلو کوم کارکول جائز نه دی، که مذهبی زده کړه ورکول وی اوکه ددین اودنیا کوم بل کاروی(اشباه، شامی).

## داعتکا ف فاسدوونکی شیا ن

ځینی خبری داسی دی چې دهغوی په کولو واجب اومسنون اعتکاف فاسدیږی اوس دهغوی یادونه کیږی. په یادوساتی چې داحکم دنفلی اعتکاف نه دی ددی حکم دنفلی اعتکاف په بیان کې راځي.
مسئله: ومعتکف ته بی له شرعی اوطبعی اړتیا له اعتکاف والا مسجد څخه بهرته وتل جائزنه دی نه په شپه کې اونه په ورځ کې هر وخت دی په اعتکاف ځای کې وی. (عالمگیری)
مسئله: معتکف که دیوی دقیقې لپاره هم بیله شرعی اوطبعی اړتیا له اعتکاف ځای (یعنی مسجد څخه) بهرته ووزی نو دحضرت امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دده اعتکاف فاسدیږی. (عالمگیری)
مسئله: بیله شرعی اوطبعی اړتیا که قصداووزی اوکه په هیره په هرحال کې اعتکاف ماتیږی. (عالمگیری)

مسئله: که د معتکف له قریبانو څخه کوم څوک سخت ناروغه شي ،یا څوک وفات شي نو دمعتکف په تللو اعتکاف پر ځای نه پاتیږي ،خو په داسې حالت کي په تللو ګنهګار کیږي نه :بلکه که دناروغ له معتکف پرته بل کوم څوک پوښتونکی نه وي ،مریض ته ډیر تکلیف دی ،دمرګ ورته خطره ده نو دمعتکف لپاره تلل په کار وروسته دی ددی قضاء راوړي دغه رنګه مثلاکوم خپل یې مړشو اودغسل کفن اوښخولو بل کوم څوک نشته بیا هم له اعتکاف څخه ورتلل په کاردی بیادي وروسته قضاء راوړي.
(البحر الرائق)

مسئله: که معتکف دمړي دلمبولو ،کفن تیارولو ،جنازي لمونځ کولو یاورکولو لپاره یادمړی کټ ته اوږه ورکولو یا په دفن کي برخه اخیستلو لپاره بهرته ولاړشي نودده اعتکاف ماتیږي .بیله سختی اړتیا دی اعتکاف نه ماتوی ،هو که بیله معتکف کوم بندو بست نه شي کیدلای نو بی شکه ولاړدی شي اووروسته دی قضاء راوړي (عالمګیری)

مسئله: دشرعی یا طبعی اړتیا لپاره دباندی تللی ؤ په لاره کي پورورکونکی یاکوم بل حقدار ټینګ کړی اومعتکف هم ورته ودریدي نو دحضرت امام اعظم رحمة الله عليه په نزد دده اعتکاف مات شو .ولی چي معتکف ته په کاردی چي ورته ونه دریږي بلکي په روانه روانه دی هغه ته ځواب ورکړي یادی ومسجدته دراتلو

ورته ووایې که دیوی دقیقې لپاره هم ودریدې نو اعتکاف ماتیږی. (عالمگیری)

مسئله: معتکف پخپله سخت مریض شو چې له کبله یې په مسجد کې پاتې کیدل مشکل وی نو معتکف کورته تللای شی :دده په تلو خو به اعتکاف مات شی اما گنهگار کیږی نه (البحرالرائق)

مسئله :ومعتکف ته دخان اومال قوی خطر شی دکوم پر لیری کولو چې داعتکاف پر مهال قدرت نه لری په دی صورت کې که دی کورته ولاړشی نه گنهگار کیږی. اما اعتکاف ماتیږی. (البحرالرائق)

مسئله :کوم حاکم یا بل چا په زور معتکف دباندی راوایستی دمثال په ډول دبندی کولو دولتی حکم وشو یا په زور پورورکونکی دباندی را کش کړی نو اعتکاف فاسدیږی لیکن معتکف نه گنهگاریږی.(قاضی خان)

مسئله : مسجد لویدی اومعتکف تری لاندی کیدو خطره وی یاکوم ماشوم یاسړی داوبو په څاه کې ولویدی اوډوبیدی یا په اورکې ولویدی یا دلویدو یره وه نو دمعتکف لپاره له مسجد څخه په وتلو کې گناه نشته بلکی دچادروح دساتنی په غرض واجب دی ،خو اعتکاف پر ځای نه پا ته کیږی.( علم الفقه)

## یوه لارښودنه

په بیان شویو مسئلو کې ومعتکف ته له مسجد څخه ددباندی وتلو لپاره دخپلو مخلصو اوتجربه کارو ملگرو اودوستانو سره

مشوره کول په کاردی که کوم داسی تدبیر کیدلای شی چي له خپله وتو پرته کاروشی نو پخپله دی نه وزی. اودکومی سپکی ویری څخه وهمکی کیدلو څخه وروسته سمدستی راوتل صحیح نه دی که په رښتیا کوم دنه زغمل کیدو یا سخت خطر ور پیښ شی نو اعتکاف ماتول په کاردی.

مسئله: دمعتکف هیر شو دده پام هم نهٔ چي زه په اعتکاف کي یم اوله مسجد څخه دباندی راغلی نو اعتکاف فاسدشو خواکه سمدستی په یاد ورشی ،چي زه په اعتکاف کي یم یاځه وخت رورسته ،البته نه ګنهګار کیږی. (قاضی خان)

مسئله :داعتکاف پرمهال په کوروالی کولو که په ورځ کي وی اوکه په شپه کي ،په هیره وی اوکه قصدا ،انزال وشی اوکه نه وشی په هرحال کي اعتکاف فاسدیږی. (قاضی خان)

مسئله ،معتکف له شرمګاه پرته دښځي دبدن له کومې بلې برخی سره یو ځای یا مچي اوغاړه په غاړه شو نو که انزال وشی اعتکاف فاسدیږی اوکه نه وشی نه فاسدیږی. (قاضی خان)

مسئله:معتکف وکومی پردی میرمنی یا نارینه ته په بد نظر وکتل یا په غلطو خیالاتو کي ورک شو نو په دی سره اعتکاف نه ماتیږی که انزال وشی اوکه نه وشی. ( قاضی خان )داسی ټول کارونه حرام دی ومعتکف ته له دغو څخه سخت پرهیز کول لازم دی.

مسئله :معتکف دچاسره په جګړه شو اوخدای مه کړه ښکنځل کول یي پیل کړل نو په دی اعتکاف نه فاسدیږی اما ګنهګار کیږی (فتاوی قاضی خان )

مسئله: معتکف په مسجد کي دننه وی خوله مسجد څخه یواځی سر یالاس وباسی نو په دی اعتکاف نه فاسدیږی.(قاضی خان )

مسئله :معتکف دی دناوړو تف کلو ،پوزه پاکولو ،له ډوډی مخکی یاوروسته لاس پریمنځلو اوخولی وینځلو لپاره له مسجد څخه دباندی نه ځي..که داودس کولو ځاي له مسجد څخه دباندی وی هلته دی هم نه ځی ،په مسجد کي دی دننه بندوبست وکړی ،په توکدان یاکوم لوښی کي دی لږ ایری یاخاوری واچوی کښي دیږدی ،په هغه کي دی ناړی توکی ،پوزه دی پاکوی ،اوپه سلمچي (دشوئ )یاکوم لوښی کي دی لاس وینځي ،یادی داودس پرنالۍ داسی ودریږی چي پښی یي دمسجد په غولي اوانګړ کي وی اوګړنګ یاناوړی په نالۍ کي ولویږی ،ولي چي له مسجد څخه سریا لاسونه دباندی راایستلای شی. (البحرالرائق )

مسئله :معتکف که دګرمی څخه دځان ساتنی لپاره یا په یخ کي لمرته کښینستلو لپاره دمسجد له حد څخه دباندی ووزی نو اعتکاف فاسدیږی (البحر الرائق )

مسئله :دمعتکف لپاره دډوډی دراغوښتلو بندوبست کول په کاردی خواکه یې له کور څخه څوک راوړی یادی هوټل والا ته ووایی ،دهغوی نو کردی پروخت ورته راوړی ،کله چي انتظام

وشي نو دمعتکف لپاره پخپله دډوډی راوړلو لپاره له مسج
څخه بهرته تلل جائز نه دی. که ولاړشی نو اعتکاف فاسد یږی.
(البحرالرائق

مسئله :که دهغو سره سره معتکف ته دډوډی راوړلو هیڅ
بندوبست ونه شو نو پخپله له کوره یا له هوټله یاله نانوائی څخ
ډوډی راوړلاي شی ،خو بیله اړتیا دی هلته نه درېږی لږ تر لږ
دومره خودی ورته ووايي چي فلانی وخت دډوډی دوړلو لپار
راځم،تر څو دوکاندار خیال وساتی،اوتر ټولو مخکی دي خلاص
کړی ،اودغه ډوډی راوړل دلمر دلویدوپر وخت سم دی دلمر تر
لویدو مخکی دی هیڅکله نه ځي ولی چي دلمر تر لویدو مخته
اړتیا نه ثابیتیږی تر دی وروسته دپیشلمی تر آخرنی وخت پوری
دتګ اختیار دی ،وروسته نشته ،اوډوډی په مسجد کي خوړل په
کاردی (البحر الرائق)

مسئله :کوم سړی دمعتکف ډوډی راوړ له خو زیاتی نخرې بې
کولی ،نو په داسی صورت کي دډوډی راوړلو لپاره په خپله
معتکف تللا ي شی ،دغه رنګه که دډوډی راوړلو ډیره زیاته
مزدوری غواړی بیاهم پخپله راوړل جائز دی.(روح الجوار)

مسئله : معتکف ډیر سخت تږی کیږی په مسجد کي اوبه نشته
،نه څوک راوړونکی شته نو پخپله له مسجد څخه دباندی چیری
چي اوبه ژر تر لاسه کیږی اوبه راوړلاي شی ،که داوبو لوښی نه
... ی نو په داسی ځای کي داوبو څښلو لپاره تلاي اوراتلاي شی

.دګرمۍ په موسم کي کله دپښلمی پر وخت داسی صورت
ومعتکف ته ور پیښیږی. (البحرالرائق)
مسئله :معتکف که قصدا روژه ماته کړی نو دروژی دفاسدیدو
سره سره اعتکاف هم فاسدیږی ،اوپه روژه کي په هیره خوراک
کولو سره خو روژه نه ماتیږی ځکه نو اعتکاف هم نه ماتیږی.
(البحرالرائق)
مسئله :معتکف که ددو اا اخیستو لپاره دباندی ولاړی نو
اعتکاف ماتیږی .دوادکوم بل چا څخه راغوښتل په کاردی ،که
وډاکټرته ورښکاره کول وی نو مسجد ته دی راوغواړی.
(اعتکاف کي فضائل ومسائل)
مسئله :معتکف ته که احتلام وشی نو اعتکاف نه ماتیږی ،که هر
څو ځله وی که په شپه کي وی او که په ورځ کي.(عالمګیری)
مسئله :معتکف که دچا شئ غلاکړی یا دمالک له اجازی پرته
کوم شئ وخوری نو اعتکاف نه ماتیږی اماګنا ه به وی.(عالمګیری)
مسئله :معتکف که بیهوښه شی یادیوانه لیونئ شی یا دپیر یانو
له تأ ثیراتو بی عقل شی او تریوه ورځ اوشپه زیات دغه سی وی نو
په مینځ کي یوه ورځ پاته شوه اوپر لپسی والی پر ځای نه شو
پاتی ځکه اعتکاف فاسدیږی او که دیوی ورځی اویوی شپی تر
تیریدو مخکی په هوښ کي راغلی نو اعتکاف نه فاسدیږی.
(عالمګیری)

## ومعتكف ته مخته راتلونكى اړتيا وى

ومعتكف ته چي څومره اړتياوى اوضرورتونه له اعتكاف ځاى څخه دوتلو لپاره ورپېښيږى فقهاء كرامو رحمهم الله اجمعين هغه په درى ډوله كي بيان كړى دى .(١)شرعى اړتياوى (٢) طبعى اړتياوى ،(٣)ضرورى اړتياوى ،اوس ددى قسمونو حكمونه اومسئلى جلاجلا ستاسو په خدمت كي وړاندى كوو.

## په اعتكاف كى دشرعى اړتيا مسئلى

دشرعى اړتيا تعريف ،دكومو شيانو اداينه چي شرعا فرض او واجب وى اوپه اعتكاف ځاي كي معتكف هغه نشى اداكولاي وهغه ته شرعى اړتيا ويل كيږى.مثلا دجمعى لمونځ ،داختر لمونځ اونور داسى لمنځونه. (البحرالرائق)

مسئله :دمعتكف په مسجد كي دجمعى لمونځ نه كيږى نو دده لپاره وجامع مسجدته دومره مخكى تګ پكاردى جي دخطبى تر پيل كيدو مخكى هلته دوه ركعته تحية المسجد، اوڅلو ر سنتونه په ډاډسره وكړى ،اوددى اندازه په خپله پر معتكف پريښودل شوى ده په اندازه كي كه څه زياتوب اوكمبوت راشى نو هيڅ پروانه لرى ،بيا دجمعي تر فرضو وروسته دى شپږ ركعته سنت اونفل وكړى خپل اعتكاف والا مسجد ته دى راشى. (درمختار)

مسئله :دجمعي دسنتو تر اداينى وروسته په جامع مسجد كى كه څه زيات وخت لپاره پاتى شى نو جائز دى

دی ،ولی -چي په کوم مسجد کی يې داعتکاف لزوم کړی ؤو دهغه يو ډول خلاف کول دی.(درمختار)

مسئله : که معتکف جامع مسجد ته دجمعې اداکولو لپاره ولاړ شی اوهم هلته يوه ورځ يوه شپه يا تردی کم اوزيات پاته شی يا پاته اعتکاف هم هلته پوره کړی بيا هم جائز خواعتکاف نه ماتيږی.، خوداسی کول مکروه دی.(بدائع)

مئسله: معتکف په خپل مسجد کي په کومه وجه جمع ونه موندله مثلا کوچنی يا غټو بولو ته تللی ؤ ،مسجدته چي راغلی ورته معلومه شوه چي جمعه شوی ده نو اوس دجمع په خاطر بل مسجد ته دباندی تلل جائزنه دی.

مسئله :معتکف که دکومی طبعی اړتيا لپاره يعنی دکوچنيو ياغټو بولو لپاره بهرته ولاړشی اودده دا اندازه شی چي زه دخپل اعتکاف په مسجدکي جمع نه شم موندلاي اوپه لاره کي کوم مسجد شته په کوم کي چي جمع کيږی ياتياره ده نو په داسی صورت کي دلاری په مسجد کي په جمع سر ه لمونځ کول اوتر ختميدو سمدستی وروسته مسجدته راتلل جائزدی.

(ردالمحتار)

## يو ه قا عد ه

معتکف که دکومی طبعی يا شر عي اړتيا لپاره له مسجد څخه دباندی ولاړشی بيا دتلو ياراتلو پر مهال کوم عبادت اداکړی نو داسی جائزدی دمثال په ډول په لاره کي کوم ناروغ په مخه ورغلي

پر هغه يې پوښتنه وکړه يا دجنازې لمونځ تيارؤ په هغه کې يې برخه واخيستله ،نو هيڅ پروانه لرې ځکه چې داشيان عبادت دی ،خوپه ځانګړې توګه دهم دغو کارونو لپاره مثلاً دمريض پوښتنې دجنازې دلمانځه په نيت له مسجد څخه بهرته راوتل جائزنه دی په دی دواړو خبروکې غټ توپير دی ،ښه ځان په پوه کړی ،دهم دغو کارونو لپاره له مسجد څخه دباندی راتلل خوناجائزدی اما که اتفا قا داشيان ورپيښ شی نو ددوی کول صحيح دی.

(ردالمحتار)

مسئله: داخترانو په ورځ اعتکاف کول ګناه ده ،خو که څوک بيا هم اعتکاف وکړی نو دهغه لپاره داختر ولمانځه ته دجمعې په ډول تلل په کاردی ، اوداختر ترلمانځه کولو سمدستی وروسته اعتکاف ځای ته راتلل په کاردی ،داختر دلمانځه لپاره تلل په شرعي اړتيا کې داخل دی. (ردالمحتار)

## دمعتکف لپاره داذان مسئلې

مسئله: داذان کولو ځای مثلاً مناره ، محراب اونور که په مسجد کې دننه وی که مؤذن ټاکلی وی اوکه نه وی ټاکلی، خودمعتکف داذان لپاره هغه ځای ته تلل بيله شبهې جائز دی ، اوله اذان پرته په بل کوم غرض هغه ځای ته تلل مثلاً دخوراک ،څښاک ، پريوتلو لپاره هم صحيح دی.. (بدائع)

مسئله:که داذان کولو ځای مثلاً مناره ، حجره يامحراب دمسجد په څنګ کې مقرر دی کوم چې له مسجد څخه دباندی دی ، خو

دهغه دروازه دمسجد له دننه خواده نو ومعتکف مؤذن اونا مؤذن دواړوته هلته داذان لپاره تلل یا په کوم بل غرض تلل ټوله جائز دی. (شامی)

مسئله :داذان کولو ځای مثلا مناره ، حجره اونور که له مسجد څخه دباندی دی اوهغه ته دتلو دروازه (لاره ) هم له مسجد څخه بهرده نو معتکف مؤذن اونا مؤذن هغه ځاي ته یواځي داذان کولو لپاره تلائ شی. له اذان څخه سوا په بل کوم غرض مثلا ډوډی خوړلو، پریوتلو کښینستلو اوطبیعت سمولو لپاره دمؤذن اونا مؤذن دواړوداعتکا ف په حالت کي هلته تلل جائز نه دی اود معتکف مؤذن لپاره هم تر اذان کولو وروسته سمدستی بیرته راتلل په کاردی. (شامی)

مسئله : پورته چي ومناري اونوروته دتلو لپاره کومی مسئلي ولیکل شوي په هغو ی کي چي کوم حکم بیان کړل شو هغه دمسنون اوواجب اعتکاف لپاره دی . نفلی اعتکاف کونکی ودغو ځایونو ته هروخت تللا ی شی.(عالمگیری)

## دا عتکاف د طبعی اړتیا مسئلي

دطبعی اړتیا تعریف : داسی شیان دکومو وکولو ته چي انسان مجبور دی اوهغوی په مسجد کي نشی کیدلاي وهغوی ته طبعی اړتیا وایی لکه کوچنی بولی ، غټی بولی ، استنجاء ،د جنابت غسل اونور..

مسئله: د طبعي اړتيا لپاره چي کله معتکف دباندی ولاړشي نوتر
-څو چي شونی وی په داسی ځاي کي دی خپل ضرورت پوره کړی
کوم چي نژدی وی مثلا دمعتکف کورليری دی اودکوم انډيوال
کوربی نژدی دی يا په خپله دمعتکف دوه کوره دی يو نژدی اوبل
ليری يا مسجد ته نژدی حکومتی بيت الخلاء ( ټټی اونور ) دی
يا له مسجد سره نژدی بيت الخلاء جوړه شوی ده نو په دغو کي
چي هره بيت الخلاء ومسجد ته نژدی وی په هغه کي به اړتيا پوره
کوی. خو که په نژدی ځاي کي طبيعت نه لګيږی دکوم په وجه چي
اړتيا نه ترسره کيږی. خواکه دطبيعت دتقاضاپه وجه وي يا وبل
چاته تکليف وی ، پرده کول غواړی يا کومه بله ستونزه ده نو
ليری ځاي ته چيری چي داستونزه نه وی تګ جائزدی. (شامی)
مسئله: دطبعی اړتيا ترسره کيدو وروسته سمدستی دمعتکف
لپاره مسجد ته راتلل په کاردی بيله کومی وجهي په کورکي پاتي
کيدل جائزنه دی (شامی)
مسئله: که معکتف ته بادورشي نو که ممکن وی له مسجد څخه
دی دباندی هوا اوباسی که بی واکه په مسجد کي ووته نو هم
پروانه لری. معذوردی (امدادالفتاوی)
مسئله: معتکف چي کله د شرعی ياطبعي اړتيا لپاره ولاړشي نو
دخپل عادت سره سم دی تګ کوی. چټک تګ ضروری نه دی
~~بلکي لږ~~ سپک سوکه تګ کول دده لپاره غوره دی ترڅو په تګ
کي په سلام کولو اوځواب ورکولو کي هوسايي وی ، کله داسی

کیږي چي چاته دده اعتکاف معلوم نه وي هغه دي درول غواړي ، یا په خپله هغه ته ځواب ورکول وي نو په داسي صورت کي بیله دریدو داتول کارونه ترسره کیدای شي ، په چټک تګ کي د دریدو یا دچا ددرولو اندیښنه ده اوکه یوه دقیقه هم ودریږي نو اعتکاف فاسدیږي ځکه نو سپک تګ غوره دی کنه دغسي خو هر ډول تګ جائزدی. (بدائع)

مسئله : داودس کولو یوځای نژدی اوبل لږ لیری نو نژدی ځاي غوره دي. که کومه ستونزه وی نو لیری هم تللا ی شی ،داغه رنګه دټیټی استنجاء خانی اوغسل خانی حکم دی چي تر څو تر ټولو نژدی ځای کي اړتیا ترسره کیږي نو بیله ضرورته دی لیری نه ځي (شامی)

## په اعتکاف کي دناڅا په پیښدونکی اړتیا بیان

دضروری اړتیا تعریف. معتکف ته که ناڅا په داسي سخته اړتیا پیښه شي چي له کبله دی واعتکاف پرېښودو ته مجبورشی نو داسي خبروته ضروری اړتیا وایی. (مراقی الفلاح)

مثلا ، مسجد ړنګیږی اودمعتکف تری لاندی کیدو ویره ده یا ظا لم حاکم دده دبندی کولو لپاره راشی ، یا داسی ګواهی ورکول ضروری شوی وی کومه چي شرعا دمعتکف په ذمه واجب وی چي دمدعی حق دده پر ګواهی موقوف دی بل کوم ګواه نشته که معتکف هم ګواهی ورنکړی نو دمدعی حق ضائع کیږی ، یا کوم انسان یا ماشوم په اوبو کي ډوبیږی یا په اورکي لویدلی دی یا

دلویدو ویره ده یا سخت ناروغه شوی دی ، یا له کورنی څخه
وځان مال ، اوپت عزت ته خطر دی یا سخت ناروغه شو یا جن
راغله اودجنازی لمونځ ورکوونکی څوک نشته یا دجهاد
وشو اوپه جهاد کي برخه اخیستل فرض عین شو یا چا په زور
لاس ونیوی ولاړیی کړ ، یا دجمع لمونځ کونکی ټوله ولاړو او
په مسجد کي دجمع انتظام نه شو یا ته و دی دول ټولو اړتیاؤ
ضروری اړتیا وی ویل کیږی په زیا تره صورتو کي اعتکاف
پرینبودل فرض اوواجبیږی اود اعتکاف پر په یینبودلو گناه هم
وی ، پاتی شوه داعتکاف په پرینبودلو داعتکاف فاسدیدل نو
دې حکم په اعتکاف فاسدونکی شیانو کي تیر شو هلته وګوری.

## داعتکاف دځاي مسئلي

لاندی لیکل شوی مسئلی یوائی دنرو لپاره دی دمیرمنو چي
کومی ځانګړی مسئلي دی هغه دعلماء څخه وپوښتی.
ومعتکف ته په اعتکاف کي تر کښینستلو مخکی داکتل په کار
دی چي داعتکاف له دریو قسمونو (واجب،مسنون، مستحب)
څخه کوم اعتکاف کول غواړی اوپه کوم مسجد کي چي
کښینستل غواړی هغه په دی مسجد کي صحیح کیږی اوکنه.
مسئله :دمسنون اوواجب اعتکاف لپاره په هغه مسجد کي کیدل
ضروری دی په کوم کي چي پنځه وخته لمونځ دقاعدي سره سم
کیږی.(بدائع)

مسئله: په كوم مسجد كي چي درى يا څلور وخته جمع كيږى د كوم يوه وخت جمع نه كيږى نو په داسى مسجد كي واجب او مسنون اعتكاف نه صحيح كيږى. يواځى نفلى اعتكاف كيدلاى شى.(بدائع)

مسئله: ونارينه ته دهرډول اعتكاف كولو لپاره دمسجد كيدل ضرورى دى. كه نارينه په كوركي اعتكاف وكړي نو دده اعتكاف نه صحيح كيږى (بدائع)

**دمعتكف لپاره دمسجد حدود**

مسئله: دمسجد بام دمسجد په حكم كي راځى ،ځكه نو معتكف دمسجد بام ته تلاى راتلاى شى ،په دى شرط چي دمسجد زينى په مسجد كي دننه وى كه زينى له مسجد څخه دباندى وى نو بيا پر زينو تلل روانه دى.خو كه په اعتكاف كي دكښينستلو پر مهال دانيت وكړي چي ددغو زينو په وسيله به دمسجد چت ته ځم نو بيا دمعتكف لپاره ددغو زينو په زريعه دمسجد بام ته ورتلل جائز دى بيا اعتكاف نه فاسديږى.(البحرالرائق)

مسئله: دمسجد ټول چاپير يال عرفا مسجد بلل كيږى ، خو داعتكاف په بيان كي چي چيرى دمسجد ټكى راځى له هغه څخه مراد هم هغه ځاي وى كوم چي دسجدى لګولو اولمونځ كولو لپاره ټاكل شوى وى يعنى دمسجد دننى برخه برنډه اوانګړ ( غولى ) په دى داسى هم پوهيدلا ى شى چي په مسجد كي پر كوم ځاى تاسو اودس نه شى كولا ى دجنابت په حالت كي هلته نشى

تللا ي هغه ځای مراددی ،عموما چي تر کوم ځایه دمسجد غولې
بلل کیږی تر هغه ځایه دمسجد حدوددي. (البحرالرائق)

**دمعتکف لپاره د مسجد ودغو ځایونو ته تګ جا ئز نه دی**

مسئله: دمسجد له انګړ پرته ځومره ځای چي دمسجد نوروارتیا
ؤ ته تاکل شوی وی ،مثلا داودس ځای ،داودس ټانکیانی ،
نالیانی ، واودس ته دناستی ځاي ،غسل خاني ،دامام اومؤذن
حجره ،دجنازی دلمانځه ځای ،ددالان اونورو اولنئ دروازه یا
کومه بله دروازه ترکومه چي له پایزاره سره راځی اوددغو ټولو
چتونه کومه خالی ځمکه په همدی ډول هغه ټول ځای کوم چي
دمسجد کومی اړتیا اوښیګنې یا دلمونځ کونکودهوسایي لپاره
جوړشوی وی که څه هم دادمسجدپه څلوردیوالی کي دننه وی ،
خودمعتکف لپاره دادمسجد په حکم کي نه دی ودی ټولو ځایونو
ته دمعتکف تګ جائزنه دی.

مګر داچي داړتیا په وجه شریعت دهلته ورتګ اجازه کړی وی
لکه اودس کول ،کوچنی ،غټی بولی کول ،دجنابت دغسل لپاره
تلل داټول داړتیا په اندازه جائزدی.(جامع الرموز)

مسئله: دمسجد په غولی کي تالاب جوړشوی وی هلته هم د
اودس لپاره خو تلاي شی اما دکوم بل کار مثلا تر ډوډی خوړلو
وروسته دلاس پریمنځلو خولي پریمنځلو لپاره تر ډوډی وروسته
دلوښی پاکولو لپاره تګ جائزنه دی همدغه حکم دهر اودس ځاي
دی. (جامع الرموز)

مسئله:په عیدګاه اودجنازې په ځای کی اعتکاف کول صحیح نه دی. (جامع الرموز)

## ارزښتمن هدا یت

دمعتکف لپاره چې له شرعی اوطبعی اړتیا پرته کومو ځایونو ته تګ جائز نه دی هغه ځایونه څو څو ځله .په پوره فکر سره ولولی ،زیاتره ښاغلی معتکفان په بی فهمی یا له مسئلو څخه دناخبرتیا پر بنسټ کله دلاس پریمنځلو،کله دخولې وینځلو، کله دپوزی پاکولو ،کله دلوښی پریمنځلو اوهمدارنګه دنورو بیلابیلو کارونو لپاره ځی، په کوم چې ددوی اعتکاف فاسدیږی اودوی په دی خبرهم نه وی. په یاد ساتئ چې له شرعي اوطبعی اړتیا سوا پورته بیان شویو ځایو نو ته په تلوکې ( که څه هم یوه دقیقه وی ) اعتکاف فاسدیږی..

## دمسجد ددیوا لونو حکم

مسئله: دمسجد هغه دیوالونه پرکومو چې دمسجد ودانی ولاړه ده دمسجد په حکم کې وی .ځکه نو که په دی د یوال کې کوم محراب. طاخچه ، الماری، یا دربچې جوړی شوی وی یا سپیکر لګیدلی وی نو ودغو ځایونو ته معتکف تلاي شی. (البحرالرائق)

مسئله: دمسجد کوم دیوال چې جلا جوړشوی وی یا دهغه په اړه شک وی چې معلومه نه ده چې دمسجد بانی داپه مسجد کې شامل کړی دی اوکنه ، یادیوال خونه وی بلکې داسی کوم ځای وی چې دهغه په اړوند شک وی چې معلومه نده چې داپه مسجد.

کي شامل دی او کنه نو ترڅو چي تحقیق ونکړی چي دا په مسجد کي شامل دي او کنه تر هغو هلته تګ جائز نه دی. (امدادالفتاوی)

## دمعتکف لپاره د څو پوړیزه مسجد حکم

مسئله: کوم مسجد چي څو پوړیزه وی نو دهغه په هر پوړ (منزل) کي اعتکاف کیدلاي شی، اوپه کوم یوه پوړکي داعتکاف کولو په غرض له کښېنستلو وروسته دهغه بل پوړ ته هم معتکف تللاي شی، په دی شرط چي دتګ راتګ زینه په مسجد کي دننه وی، دمسجد له حدودو دباندی نه وي که دمسجد له حدودو څخه دوی څلور زینی هم دباندی وی نو هم جائز نه دی، هو که زینه له مسجد څخه دباندی وه او پور ته تګ ضروری ؤ نو دهغه یو صورت دادی چي په اعتکاف کي دکښېنستلو پر وخت کله چي داعتکاف نیت کوی هغه وخت دی په نیت کي داشرط ولګوی چي زه به پر فلانی زینه پورته ځم نو په دی شرط کولو سره پرزینو پورته تلل روا کیږی، وهمدی شرط ته استثناء کول هم ویل کیږی. (شامی)

مسئله: دشرعی اړتیا مثلا دجمعی دلمانځه لپاره تلل طبعی اړتیا(کو چنیو او غټیو بولو او دجنابت غسل کولو) ته تلل داپه خپله مستثنی کیږی ددوی دمستثنی کولو نیت کول ضروری نه دی یعنی دااړتیا نشته چي داعتکاف کولو پر وخت په نیت کي دا شرط هم ولګول شی چي زه به دجمعی یا غټو، وړو بولو لپاره ځم شریعت پخپله ددوی اجازه کړی ده ځکه پخپله مستثنی کیږی.

(شامی او جامع الرموز)

## ومعتکف ته داحتلا م کیدو حکم

ومعتکف ته که په شپه کې احتلام وشی نو په دی سره په اعتکاف کې هیڅ فرق نه راځي معتکف ته په کاردی چې دسترګو خلاصیدوسره سمدستی تیمم ووهی دتیمم لپاره خو دی یا له مخکی څخه خامه یا پخه خښته کښیښودل شی کنې دمجبوریت له امله دی دمسجد په غولی یا دیوال تیمم ووهی بیا دی دلمبیدلو بندوبست وکړی .( بدائع ) دغسل انتظام په خپله هم کولا ي شی که بل کوم څوک کومک ورکړی داهم جائزده، مثلا داوبو دلوښی ډکول ،داوبو اچولو لپاره لوټه یا کوم لوښی راوړل که کوم بل څوک ورته نظم برابروی نو تردومره وخته دی په تیمم سره معتکف په مسجد کې وی ، بیا دی ولمبی جامی دی واغوندی مسجد ته دی راشی.

مسئله :که په ژمی اویخ کې احتلام وشی اوپه سړو اوبو دتاوان پېښیدو اندیښنه وی نو معتکف دی تیمم ووهی په مسجد کې دی وی او خپل کورنیو ته دی خبرورکړی تر څو اوبه ګرمی شی، که نژدی کوم ګرم حمام وی نو نژدی حمام ته دلمبولو لپاره راتلا ي شی ، که کیدای شی نو وحمام والو ته دی دخپل راتګ خبر ور کړی اوتر غسل وروسته دی سمدستی ولاړشی.(شامی )

## دسړ والی لپاره غسل کول

مسئله: دګرمی په وجه دسړوالی حاصلولو لپاره دغسل لپاره له مسجد څخه بهرته وتل جائزنه دی. (امداد الفتاوی)

که معتکف ولاړ ی نو اعتکاف يې فاسد يږي.

مسئله :دجمعې دغسل لپاره هم له مسجد څخه دمعتکف وتل جائزنه دی خو که تر جمعه مخکی دشرعی یا طبعی اړتیا مثلا دجمعي لمونځ کولو یا کوچنیو ،غټو بولو کولو لپاره بهرته ولاړی نو په بیرته راتلو کي دجمعي غسل کولای شی تر لمبلو وروسته دی په چټکتیا سره مسجد ته ولاړشي.ولي چي دجمعي غسل سنت اوعبادت دی اوپه داسی صورت کي هر عبادت اداکیدلا ي شی.(امداد الفتاوی)

## دمعتکف داودس کولو حکم

مسئله :ومعتکف ته دهر لمانځه لپاره که فرض وی که واجب که سنت اوکه نفل وی دغه رنګه دقرآن کریم تلاوت یاسجده دتلاوة کول وی یا قضاء لمونځ ادکول وی ددی ټولو لپاره چي هروخت وغواړی داودس لپار ه دباندی تلل جائزدی ولي چي ددی ټولو لپاره اودس کول شرط دی.خو کوم وخت چي اودس کول شرط نه وی بلکي مستحب وی لکه پراودس سربیره اودس کول یاذکر کول وی نو داودس لپاره دی بهرته نه ځی له بهرڅخه هغه ځاي هم مراددی چیری چي په مسجد کي اودس کوی.(البحرالرائق)

مسئله :که دمعتکف بدن یا جامی مرداري شی نو پخپله هم له مسجد څخه دباندی دپريمنځلو لپاره تلای شی ځکه چي له مرداری اومردارشی څخه دمسجد ژغورل واجب دی.(شامی)

مسئله :په مسجد کي داودس اوبه ختمی شوی نو له کوم ځاي ځخه چي يې ژر راوړلاي شی هلته دی ولاړشی اوبه راوړلای شی اوکه کورته تګ غواړی نو کورته تلل هم جائزدی بیا که هم هلته اودس وکړی راشی یا مسجد ته راشی پرواله اودس وکړی په مینځ کي دی چیری بیله اړتیا نه دریږی.(جامع الرموز)

**د مسنون اعتکاف دقضاء راوړلو طریقه**

پوښتنه: درمضان المبارک په آخرنی عشره کي داعتکاف په حالت کي دجمعي يا سړوالی حاصلولو لپاره دغسل په نیت له مسجد ځخه وتل اعتکاف فاسده وی.که پوره کوی ..که جائزاونه فاسدونکی اوله مسجد ځخه وتلو موخه چاپیر يال دمسجد دي که هغه برخه کومه چي دلمانځه لپاره دمسجد په حکم کي ده.

ځواب : کومه ورځ چي اعتکاف پیل شو دهغه لپاره فاسدونکی دی اودپاته ورځولپاره ختمیدونکی اوپوره کیدونکی ،خو دنذر منلی اعتکاف لپاره دتولو فاسدونکی هم دی اومسجد هغه ځای دی چیری چي لمونځ کیږی نه تبوله ځلوردیوالی.(امدادالفتاوی)

پوښتنه:که دناپوهی په وجه بهرته ولاړی او وی لامبل نو دده اعتکاف صحیح شو اوکنه؟

ځواب :ځومره ورځی چي يې داسی کړی دی دهغو مره ورځو اعتکاف قضاء دی راوړی.

(امدادالفتاوی)

پوښتنه: که يې په يوويشتمه ورځ اعتکاف وکړ وروسته په کو
وجه اعتکاف فاسد شو نو په دوهمه اودريمه ورځ بيا په اعتکا
کې شاميلېدلای شي او کنه ؟

ځواب: په مسنون اعتکاف کې چې دکومې ورځې اعتکاف فا
شوی وی دهغې ورځې قضاء واجبيږي بيا که دروژې دمياشت
ځو ورځې پاتې وی اودی په هغوی کې ددې دقضاء په نيت
اعتکاف وکړي نو هم صحيح دی يادی تر کوچنی اختر وروسته پ
شپږو نفلی روژو کې ديوې ورځې اعتکاف هم وکړي کنه هر کل
چې موقع وی يوه نفلی روژه دې ونيسې دهغې يوې ورځې د
اعتکاف قضاء دې راوړي (ردالمحتار)

مسئله: دفقهاء کرامو له بيلابيلو عبارتونو څخه معلوميږي چې
که کوم څوک دآخرنی عشرې دمسنون اعتکاف په نيت په
اعتکاف کې کښينا ستی بيا هغه تردوې ، درې ورځې تېرېدو
وروسته دکومې ډيرې سختې مجبوری په وجه دانيت کوی چې
دنن ورځي اعتکاف چې پوره کړم تر لمرلويدو وروسته کورته ځم
، يعنې درارواني ورځې داعتکاف انکار کوی چې راروانه ورځ زه
اعتکاف نه کوم نو دده مسنو ن اعتکاف به ختم شی نفلی
اعتکاف به وګرځی ، اوپه تلو پرده هيڅ قضاء نه لازميږي، ولي
چې تر پيل کولو وروسته ده اعتکاف مات نکړ بلکې ختم يې کړ ،
که دختمولو نيت يې ونکړ ، بلکې دلمر ترلويدلو وروسته
درارواني ورځې داعتکاف تر پيل کيدو وروسته دهمدغې شپې

یاورځی په مینځ کې ولاړشی نو ددغه ورځې اعتکاف ماتیږی
اوددی یوی ورځی قضاء راوړل لازمیږی. (ردالمحتار)

## دمعتکف لپاره دعمل کولو یوه لنډه طریقه

ومعتکف ته دعمل دلاندی طریقی پابندی کول په کاردی ،ولي چې دخدای وډربارته دهمدی مقصد لپاره ده حاضري راوړی ده ،دده یو یو ګړی ډیر ارزښتمن دی.

(۱) دماښام تر لمانځه وروسته دی لږتر لږه شپږرکعته نفل او زیات نه زیات شل رکعته داوابین نفل اداکوی بیا دی آیة الکرسی اوڅلورقله ولولی پرټول بدن دي دم کړی تردی وروسته لږ ډدی اولږارام وکړی اوبیادي دماخستن ولمانځه ته چمتوشی اود لومړی صف اوتکبیر اولی پابندی کوی.

(۲) چې دماخوستن لمونځ اوتراویح وکړی دعلم دین دزده کړی اوپه هغه دعمل کولو په نیت کوم سند درلودونکی اوباوری دینی کتاب مطالعه کړی یادکوم سنددرلودونکی اوباوری عالم په درس کې برخه واخلی ( که داسی درس کیدی ) داغه رنګه دقدر په شپه تر مطالعه وروسته چې ترڅوتازګی اوتکړه توب وی په ذکر ،تلاوت ،اونفلونو ،بوخت شی. اوچې کله یې وویدبدوته زړه وغواړی نو په پوره ډول په سنت طریقه وقبلې ته مخ کړی ( که شونی وو ) ویده شی.

(۳) دګرمی په موسم کې دشپې پردری بجې له خوبه راکښینی له طبعی اړتیاؤ څخه ترفارغیدو وروسته په سنت طریقه اودس

وکړي، اوتحية المسجد ،تحية الوضواوتهجد نفلونه اداکړي داغه رنګه تر نفلوورروسته څه وخت په آرامه ذکر اوتسبيحات وکړي، بياسوکه ښه وژاړي دخپلو ټولو نيکومقصدونو اوددواړو جهانو دکاميابۍ دعاوي وغواړي.

(۴) دسهار ترسپيدو يو پاؤ کم ساعت مخکې پيشلمي وخوري اوله پيشلمي وروسته دسهار ولمانځه ته چمتو شي، دلومړي صف اوتکبير اولی خيال وساتي تر څو چي دلمانځه په انتظار کي ياست استغفار واياست.

(۵)دسهار له لمانځه څخه تر فارغيدو وروسته آية الکرسی او څلورقله وواياست پرټول جسم بيي دم کړي اودسبحان الله ، الحمد لله ، الله اکبر، استغفر الله اودرود شريف يوه يوه تسبيح ولولي.

(۶) داشراق پروخت لږتر لږه دوه اوزيات نه زيات اته رکعته نفل اداکړي اوبيا ځانو نه هوسا کړي اودڅاښت پروخت تر راويښيدو وروسته لږتر لږه دوه اوزيات نه زيات دوولس رکعته نفل دڅاښت اداکړي اوڅومره چي مو وس وی په صحيح الفا ظو دقرآ ن کريم تلاوت وکړي.

(۷) کله چي زوال يعنی لمر تر سرواوړي نو څلوررکعته نفل د زوال سنت اداکړي اودماپښين دلمانځه په انتظار کي په اول صف کي کښينئ اودتکبير اولی پابندی کوئ ، اودماپښين تر لمانځه وروسته صلوة التسبيح وکړي . اوتلاوت وکړي ،بيا که دستړيا احساس درته وشو لږويده شي.

( ۸ ) دمازیگر تر لمانځه نیم ساعت مخکې رابیدارشي اودس وکړي دتحیة الوضو اودنفلونو کولو وروسته دماځیگر دلمانځه انتظار وکړي اوتر دې وروسته لنډ تلاوت وکړي بیا تسبیحات وکړي دکومو یادونه چې په ۵ نمبر کې تیره شوه ، بیاپه پوره توجه سره په دعا مشغول شي داډیرارزښتمن وخت دی دادروژه مات په تیارولو مه ضائع کوی.

( ۹ ) کومې خبرې چې په اعتکاف کې مکروه اومنع دي له هغوی څخه په بشپړه توگه پرهیز کوی دکومو تفصیل چې داعتکاف په مکروهاتو کې تیرشو ،دوهم ځل بیا په ژور فکر هغوی مطالعه کړي.

(۱۰) پرمعتکف لازم دي چې په اول صف کې پخپله راشي کښیني ،داسې دی نه کوي چې پخپله خو بل ځاې وي اودلاس پاک ، څادر اونورو په ایښودلو ځای نیولی وی.اوپه خپل هرکړه وینا ، ناسته ، ولاړه ،اودعمل په ډول دي ونورو معتکفانو اولمونځ کونکیو ته له تکلیف رسولو څخه دځان ساتلو پوره پابندي کوی اودخپلی صفائې دی هم خیال ساتی اودمسجد دپاکوالی دی هم پابندي کوی دخپلوانواودنورودوستانو دبخښنی اومغفرت دعاء دی هم غواړی ،درحمت په هیله دی وی اوومایوسی ته دی هیڅکله لاره نه ورکوی.(مولانا مفتی عبدالرؤف صاحب سکهروی ماخوذ از البلاغ کراچی رمضان المبارک سنــ۱۴۰۸ـه .هج زیاتوب له لوری محمد رفعت قاسمي ددارالعلوم دیوبند مدرس ۲۵ رمضان المبارک سنه ۱۴۰۸هج)

## ځینې ځانګړې اعمال

داعتکاف پر مهال خو انسان ونورو ټولو کارونو ته شاکړې په مسجد کې ولویږي. ځکه دغه وخت غنیمت بلل په کاردي ،اودا بیهوده خبرو یاهو سایې غوښتنې نذر کولو پر ځاې زیات نه زیات په تلاوت ،عبادت دالله" په ذکر ،تسبیحاتو اواورادو کې صرفول په کاردی .داعتکاف لپاره کوم ځانګړې نفلې عبادت نشته ،بلکې کوم وخت چې دکوم عبادت توفیق وشي هغه غنیمت ګڼل په کاردي،خو ځینې داسې عبادتونه شته چې په عامو حالاتو کې دهغوې توفیق نه وي اعتکاف ددغو عبادتونود تر سره کولو لپاره غوره موقع ده ،ځکه دځو داسې اعمالو یادونه دلته کیږي ، تر څو معتکفینو ته دهوسایې باعث وي.

(احکام اعتکاف ازمولانا محمد تقی عثمانی)

### صلاة التسبيح

صلوة تسبیح دلمانځه یو ځانګړې ډول دی کوم چې نبې علیه الصلوة والسلام وخپل اکا حضرت عباس رضې الله تعالی عنه ته ورښودلې وو ،اوفرمایلې ؤ چې په دې ډول لمونځ په ورځ کې یو ځل کوه که ددې توان نه وي نو هره جمعه یې یو ځل کوه که ددې وس هم نه وي نو په میاشت کې یو ځل کوه اوکه ددې طاقت هم نه وي نو په کال کې یو ځل کوه داغه رنګه ددې لمانځه په فضیلت بیانولو سره ده مبارک((وفرمایل: چې که ستاسو ګناهونه دعالج دریګ په برابروې بیاهم ( ددې لمانځه په برکت) الله تعالی

ستاسو مغفرت کوی.( جامع ترمذی) عالج دیوه ځاي نوم دی کوم چي په سخته ریګنه سیمه کي واقع ؤ ،چیری چي ریګ ډیر زیات ؤ. (قاموس)
ځکه نو مطلب دادی چي ګناهونه که هرڅومره زیات وی ددی لمانځه په برکت دهغوی دمغفرت هیله ده ، ځکه نو ددین بزرګانو ددی لمانځه خاص پابندی کړی ده.
حضرت عبدالله ابن مبارک رحمه الله تعالی علیه به هره ورځ دماپښين پروخت داذان اواقامت په دوران دالمونځ کاوو ، اوحضرت عبدالعزیز بن ابی داؤد رحمة الله علیه فرمائی چي کوم څوک جنت ته تلل غواړی هغه دی دصلوة التسبیح اهتمام کوی ، اوحضرت ابوعثمان حیری رحمة الله علیه فرمائی چي،له مصیبتونو او غمونو څخه دخلاصون لپاره ماهیڅ عمل ترصلوة تسبیح زیات نه دی لیدلی. (معارف السنن ج۴ص۲۸۲)
ځکه نو داعتکاف پرمهال دغه لمونځ یاخو هره ورځ یا چي څومره ځله مو توفیق وی هرومرو کول په کاردی.
دلمانځه طریقه داده چي څلوررکعتیز نفل دی دصلوة التسبیح په نیت وکړل شی نور تیوله رکنونه دعامو لمونځو نو په څیر دی خو دغه لمانځه په هررکعت کي پنځه اویا ځله سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر دلاندېنی تفصیل سره سم ویل کیږی او کەله دی سره ولاحول ولا قوة الا با الله العلی العظیم )

( دغه زیاتوب دمستدرک حاکم لومړی ټوک مخ ۲۱۹ په روایت ثابت دی )که دا هم یوځای کړی نو نور غوره دی.
دشروع کولو طریقه داسی ده:
( ۱ ) نیت وتړی دمعمول سره سم ثناء ، سورة فاتحه اوبل کوم سورت وواياست کله چي قراء ة پوره کړی نو ورکوع ته ترتلو مخکی په ولاړه ولاړه پورته بیان شوی تسبیح پنځلس ځله و وایاست ،بیا رکوع ته ولاړشی.
( ۲ ) ورکوع ته ترتلو وروسته دمعمول سره سم سبحان ربي العظيم وواياست بیا لس ځله پورته بیان شوی تسبیح ووایي . تر دی وروسته له رکوع څخه پورته شی.
( ۳ ) له رکوع څخه چي پورته شی لومړی دمعمول سره سم سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد وواياست بیا په ولاړه ولاړه لس ځله بیان شوی تسبیحات وواياست بیا سجدی ته ولاړشی.
( ۴ ) په سجده کي لومړی دمعمول سره سم سبحان ربی الاعلی دری ځله وواياست ،بیا لس ځله دغه تسبیحات وواياست له دی وروسته له سجدی څخه پورته شی.
( ۵ )له سجدی څخه چی پورته شی کښینی اوپه ناسته ناسته لس ځله دغه تسبیحات وواياست بیا دوهمی سجدی ته ولاړشی.
( ۶ ) په سجده کي دې له معمول سره سم دری ځله سبحان ربی الاعلی ووایې بیا لس ځله دغه تسبیحات وواياست بیا تردی وروسته له سجدي څخه پورته شی دولاړیدو پرځاي بیا کښینی

اولس ځله دغه تسبیحات ووایي ، تردی وروسته ددوهم رکعت لپاره ولاړشی.

په دی ډول په یوه رکعت کي ۷۵ ځله دغه تسبیحات وویل شو ، همدارنګه پاتی دری رکعتونه وکړی..داسی په څلورو رکعتونو کي ټول دری سوه تسبیحات کیږی ،په دوهم اوڅلورم رکعت کي دغه تسبیحات دالتحیات تر ویلو ورسته ویل کیږی.

دوهمه طریقه داهم جائز اوله حضرت عبدالله ابن مبارک رحمه الله څخه ثابت ده چي په پیل کي ترقراءة وروسته ۲۵ ځله دغه تسبیحات ووایاست ، بیا یي ددوهمی سجدی پوری لس لس ځله وایاست اوتر دوهمه سجده وروسته په ناسته نه ویل کیږی ،بلکه سیده ولاړشی.

علامه شامی رحمه الله لیکلی دی چي په دغو دواړو طریقو صلوة التسبیح کول په کاردی کله په اوله طریقه اوکله په دوهمه طریقه.

دتسبیحاتو شمیر که په خپله په یادؤ نو پر ګوتو شمیرل نه دی په کار،خو که دچا هیریدو نو پر ګوتو شمیرل جائزدی ،که په کوم رکن کي تسبیحات ویل هیرشو نو په راتلونکی رکن کي قضاء راوړی، داغه رنګه چي په یوه رکعت کي ۷۵ تسبیحات پوره شی ،خوغوره دادی چي درکوع هیرشوی تسبیحاتو قضاء په قومه کي رانه وړی بلکه په سجده کي قضاء راوړی اودلومړی سجدې هیر شوی تسبیحاتو قضاء دسجدو په مینځ جلسه کي مه راوړی بلکه په دوهمه سجده کي راوړی.(شامی لومړی ټوک ص (۴۷۱)

## صلوة الحاجة

چي کله وکوم انسان ته ددنیا اوآخرت کومه اړتیا ورپیښه وی نو نبی ﷺ دحاجت دلمانځه وکولوته هڅونه کړی ده دحاجت د لمانځه بیلا بیلی طریقی له مشائخو څخه نقل شوی دی ،خو دهغه کومه مسنون طریقه چي دحدیثو په روایتو نو کي بیان شوی ده هغه داچي ددوه رکعتیز نفلو دصلوة الحاجة په نیت وتړی ، دلمانځه طریقه دعام نفلی لمونځونو په ډول ده.، هیڅ توپیر نشته ،.خو تر لمانځه وروسته الحمدلله induced ووایه درودشریف ووایه بیا دادعاء ولوله: لا الهَ الا اللهُ الحَلِيْمُ الكريمُ سُبْحَانَ الله رَبَّ العَرْشِ العَظِيْم اَلحَمْدُلله رَبِّ العَالَمِيْنَ ،اَسْأَ لُکَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِکَ وَعَزَآئِمَ مَغْفِرَتِکَ ،وَالغَنِيْمَةَ مِنْ کُلِّ بِرٍّ وَالسَّلاَمَةَ مِنْ کُلِّ اِثْمٍ لاَتَدَعْ لِيْ ذَنْباً الا غَفَرْتَهُ وَلاَهَمّاً الاَّ فَرَّجْتَهُ وَلاَحَاجَةً هِيَ لَکَ رِضاً الاَّ قَضَيْتَهَا يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.(جامع ترمذی )

تردی وروسته چي مو کوم حاجت وی پخپله ژبه دهغه دعاوغواړه

(دصلوة حاجة محدثانه تحقیق لپاره وګوری معارف السنن ج۴ص۲۷۵)

داغسی خو دغه ،صلوٰة الحاجة ، دهری دنیوی اواخروی اړتیا لپاره کیدلا ي شی ،خو که ددی ترکولو وروسته له الله ﷻ څخه دادعاء وغوښتل شی چي ، یا الله ماته اوزما کورنیوته په دین عمل کولواودسنت پیروی کولو توفیق راکړی، زموږ ګناهونه را وبخښی اوجنت مو په برخه کړه آمین.نو انشاألله لویه ګټه به وی.

## ځینی مستحب لمنځونه

ځینی مستحب لمنځونه ډیر فضیلت اوثواب لرونکی دی ، داغسی خو مسلمان ته په کاردی چې ددوی اهتمام وکړی ،خو په ځانګړی توګه داعتکاف پرمهال ددوی پابندی هو سا ده اوکه په اعتکاف کې ددوی پابندی وشی له الله ﷻ څخه دعاوغوښتل شی چې په نورو ورځو کې ددوی توفیق وشی نو څه لیری ده؟ چې الله تعالی به دی داعتکاف په برکت ددی ټولو مستحباتو عادی جوړکړی..

## تحیة الو ضؤ

ترهراودس وروسته دوه رکعته دتحیة الوضوپه توګه کول مستحب دی،په صحیح مسلم کې حدیث دی چې: مامن احد یتوضأ فیحسن الوضوء ویصلی رکعتین یقبل بقلبه ووجهه علیهما الا وجبت له الجنة. (مأخوذ ازشامی)

هرڅوک چې اودس وکړی ،اوپه ښه ډول اودس وکړی ،اودوه رکعته داسی وکړی چې خپل ظاهر اوباطن دلمانځه پر لور متوجه کړی وی نو دهغه لپاره جنت واجبیږی.

داعتکاف پرمهال خو انسان په مسجد کې وی ځکه نو دتحیة المسجد کولو موقع نه وی ،خو هر کله چې اودس وکړی ، تحیة الوضوء دی کوی نو انشاء الله دډیر غټ فضیلت باعث به وګرځی ،دتحیة الوضوکومه ځانګړی طریقه نشته ، دعامو لمونځونو په

ډول داهم کول کیږی ،خو غوره دادی چي دغرپیو تر وچیدو مخکی دالمونځ وکړل شی. (درمختار مع شامی ج۱ص ۵۷۹)

که په کومه وجه دتحیة الوضوء وخت ونه موندل شی نو دمؤ کد سنتو یا فرض لمانځه دپیل کولو پر وخت په همدغه لمانځه کي دی دتحیة الوضوء نیت هم وکړل شی نو انشاء الله له دغه فضیلت څخه به نه بې برخې کیږي.(شامی)

په صحیحین کي له حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وحضرت بلال حبشی رضی الله تعالی عنه ته وفرمایل چي اي بلاله ماته داوښیه چي تر اسلام قبلولو وروسته ستا هغه کوم عمل دی دکوم په اړه چي وتاته تر ټولو زیاته هیله وی (چي الله تعالی به دهغه په وجه پر تاورحمیږی ) ځکه چي ما په جنت کي وخپل مخته ستادپایزارو کړپی اوریدلی دی حضرت بلالؓ ) و فرمایل چي ماهیڅ داسی عمل نه دی کړی دکوم په اړه چي زمازیاته هیله وی ( په نسبت ددی چي ) مادشپی اوورځی چي هروخت اودس کړی دی نو په هغه اودس می چي هر څومره توفیق شوی دی لمونځ هرومرو کړی دی.

(مشکوة ص۱۱۲)

## د اشرا ق لمو نځ

داشراق لمونځ هغه لمونځ دی چي دلمر تر ختلو وروسته کیږی د اشراق دوه رکعته کیږی ، اوکله چي لمر راوخیږی څه راپورته شی نو دالمونځ کول کیږی په دی کي افضل دادی چي انسان دسهار

تر لمانځه وروسته پر خپل ځاي ناست په تسبيحاتو يا تلاوت مشغول وی ، اوکله چې لمر راوخيږی ځه راپورته شی نو دوه رکعته وکړی .له حضرت انس ابن مالک (ﷺ) څخه روايت دی چې رسول اکرمﷺ وفرمايل: چې کوم څوک دسهار لمونځ په جمع وکړاوبيا دلمر تر ختو ( هلته ) ناست ؤ اودالله ﷻ ) ذکريې کاوی ، بيا يې دوه رکعتونه (داشراق ) وکړ نوده ته ديوه حج اوعمری په څير ثواب ورکول کيږی ،دپوره حج اوعمری.

(ترمذی ،ترغيب ج۱ص۱۲۴)

اوحضرت سهل بن معاذﷺله خپل پلار څخه روايت کوی چې نبی عليه الصلوة والسلام وفرمايل چې کوم څوک دسهار لمونځ اداکړی دخپل لمانځه پر ځای ناست اوداشراق تر دو رکعتو کولو پوری دخير پرته له خولې څه نه راواباسی نو دهغه ګناهونه که څه هم دسمندر دځګ برابر وی ،ورمعافيږی. (مسند احمد ،ابوداؤد اونورترغيب ج۱ص۱۲۵)

## دڅاښت لمونځ

ددی لمانځه هم په حديث کې ډير فضيلت راغلی دی،ددی مستحب وخت دورځې ديوی څلورمی برخی تر تيريدو وروسته پيل کيږی يعنی دسهار دسپيدو اودلمر دلويدو په مينځ کې چې څومره ساعته کيږی چې هغه پر څلور برخی وويشل شی ديوی برخی تر تيرولو وروسته دلمر تر زوال مخکی مخکی په هر وخت کې يې کولاي شی ،مستحب وخت خو همدغه دی،ليکن که له دی

څخه مخکې مګر دلمر ترختو وروسته چې هر وخت وکړی نو داهم
جائزدی. (شامی، کبیری ص۳۷۳)
په حدیث شریف کې یې ډیر فضیلت راغلی دی. لکه چې له
حضرت ابو درداء رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې:
[من صلی الضحی رکعتین لم یکتب من الغافلین ومن صلی اربعا کتب
من العابدین ومن صلی ستا کفی ذلک الیوم ومن صلی ثمانیا کتبه الله من
القانتین ومن صلی ثنتی عشرة رکعة بنی الله له بیتا فی الجنة]
(الترغیب والترهیب ص۲۳۶ج۱ دطبرانی په حواله، ورواته ثقات)
څوک چې دڅاښت دوه رکعته وکړی هغه په غافلو کې نه شمیرل کیږی
اوڅوک چې څلوروکړی هغه په عبادت کونکیو کې لیکل کیږی
اوڅوک چې شپږ وکړی دهغه لپاره (دغه شپږ رکعتونه) ټوله ورځ (
درحمت نارلیدو) لپاره کفایت کوی اوڅوک چې دوولس رکعته وکړی
،دهغه لپاره الله تعالی په جنت کې یو کورجوړوی. دابن ماجه اوترمذی
په یوه حدیث کې درسول الله ﷺ داارشاد هم نقل شوی دی چې دڅاښت
دلما نځه پا بندی کونکی ګناهونه که دسمندر دځګ برابروی بیا هم
دده بخښنه کیږی
(ترغیب ج۱ص۲۳۵)

## صلوة الاوابین

په عامه توګه صلوة الاوابین وهغونفلوته ویل کیږی کوم چې تر
ماښام وروسته کیږی، دالږ ترلږه شپږ اوزیات نه زیات شل رکعته
دی، اوغوره دادی چې شپږ رکعته دماښام له دوو مؤ کدو سنتو
پرته وشی، بیا هم که وخت کم وٴ نو دمؤ کد وٴ سنتو سره دی شپږ

رکعته پوره کړل شي بيا هم انشاء الله ددی لمانځه فضيلت حاصليږی ، په حديث شريف کي ددی لمانځه لوی فضيلت راغلی دی له حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي نبی عليه الصلوة والسلام ارشادوفرمايي:

کوم څوک چي تر ماښام وروسته شپږ رکعته په دی ډول اداکړی چي دهغوئ په مينځ کي کومه ناوړه خبره تر خوله نه راوباسی نو دا شپږ رکعته دده لپاره ددوولسو کلونو دعبادت په برابر شميرل کيږی..

اوله حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دی : چاچي تر ماښام وروسته شل رکعته وکړل ،الله تعالی دهغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوی دامت علماء اوددين بزرګانو ددی ډير اهتمام فرمايلی دی ، الله تعالی دی مونږ ټولو ته هم ددی توفيق راکړی.آمين.

داعتکاف پر مهال په ځانګړی توګه دتهجد خيال کول په کاردی ،دغه وخت دالله تعالی دخاص رحمتونو دنزول وی ، له دی څخه زيات نه زيات دګټي اخيستو هڅې کوی . يادونه دی وی چي د تهجد لمونځ دسهار ترسپيدو مخکی مخکی ختمول په کاردی : ولي چي دسهار تر سپيدو وروسته دسهار له سنتو سوا کوم نور نفل کول جائز نه دی،خو که دسهار تر سپيدو مخکی دلمانځه نيت تړل شوی وی اودلمانځه په مينځ کي دسهار سپيدی را وخيږی نو دوه رکعتونه پوره کول په کار دی. (شامی ج۱ص۲۷۲)

(دردعاغوښتونکی محمد رفعت قاسمی ددارالعلوم ديوبند ددرس خادم ۱۵ربيع الثانی ۱۴۱۵هج)

## بسم الله الرحمن الرحيم

ددارالعلوم ديوبند استاد حضرت مولانا مفتي سعيداحمد صاحب مدظله پالن پوري رأيه:

مكمله اومدلل داعتكاف دمسئلو درسالې ليكونكى مولانا محمد رفعت صاحب قاسمي زيدمجدهم داحقر په وړاندى ده ، درسالي موضوع له نامه ښكاره ده ،درمضان المبارک دمياشتى اوخصوصا دهغى دآخرى عشرى له ځانګړو اعمالو څخه يو عمل اعتكاف هم دى ،داعتكاف حقيقت دادى چي وهرلورته شاكړى يواځى والله پاک ته ورنژدى شى دهغه پردريعنى دمسجد په كوم كونج كي ولويږى اوهروخت په عبادت ذكر اوفكر بوخت شي.

ښكاره خبره ده چي تردى زيات دكوم بنده نيكمرغى بله څه كيدلاي شى چي هغه وټولوته شاه كړى اوله ټولو ليرى شى دخپل مالک اومولا پر چوكاټ اوګويا دهغه په پښو كي پريوزى ،هروخت هغه يادوى دهغه په حضوركي توبه اواستغفاركوى پر خپلو ګناهو نو اوكميو ژاړى اوله رحيم اوكريم څښتن څخه رحمت اومغفرت غواړى دهغه رضا اودهغه نژدى والى غواړي. په همدغه حال كي دده ورځى تيريږى اوپه دغه حال كي دى شپي سباكوى. (ماخوذ ازمعارف الحديث ج۴ص۱۱۸)

له دې پرته داعتكاف نورى هم ګڼ شمير ګټى دى مثلا (۱) له خلكوسره په ناسته پاسته اودكاروبار په بوختيا وو كي له انسان څخه غتى كوچنى ډيرى ګناهوى كيږى معتكف له هغوى څخه په

حفاظت شی لکه چي په حديث شريف کي دی هو يعکف الذنوب اعتكاف کونکی له گناهونو په حفاظت وی.

(۲) اعتكاف کونکی خپل کور پريږدی دخدای(ﷻ) کورته راشی اوپريو زی، گواکي په دی دنيا کي چي والله تعالی ته څومره ورنژدی کيدل شونی وی هغومره نژدی کيږی ، اوپه حديث قدسی کي دالله تعالی ارشاددی چي :کوم څوک چي يولاس ماته رانژدی کيږی زه هغه ته دوه لاسه ورنژدی کيږم اوڅوک چي زما پرلور تگ کوی راځی زه دهغه پرلور په منډه ورځم اوس تاسو اندازه وکړی چي و معتكف ته به الله تعالی څومره نژدی وی اوڅومره به پرده مهربان وی.

(۳) داعتكاف په حالت کي هره شيبه دعبادت ثواب ورکول کيږی که څه هم معتكف پټه خوله وی ،ويده وی ياپه کوم بل کار مصروف وی.

(۴) کله چي داعتكاف کونکی هره ساه په عبادت کيده نو دقدر دشپی دلاس ته کولو هم له دی څخه غوره کومه بله طريقه نشی کيدلاي ،ولی چي هر کله چي دقدر شپه راځی هغه به په هرحال کي په عبادت کي وی.

.خودايو حقيقت دی چي دهر عبادت ثواب هغه وخت ورکول کيږی کله چي هغه والله " ته قبول شی ،اودالله ﷻ دقبلولو اسباب په ظاهره دهغه عبادت دشريعت دښودنی سره سم کيدل ضروری دی.

دارساله محترم مولانا محمد رفعت صاحب قاسمي په همدی غرض ليکلی ده چي معتکفان خپل اعتکافونه له شريعت سره د سم جوړلو لپاره له دی څخه لاربنودنه ولاس ته کړی.
دعاکوم چي الله تعالی دليکونکی دام مجده دغه نيک خواهش په ښه ډول پوره کړي اوامت ته له دغي رسالي څخه دزيات نه زياتی گټي پورته کولو توفيق ورکړی. (آمين يارب العالمين)

(سعيد احمد پالنپوری عفا الله عنه)

ددارالعلوم ديوبند خادم

۱۵ذی الحجه سنــ۱۴۰۸ـــه هج

مثامېو دينی وورنور القرآن اداري خادم

«ابوخالدمولوي عبدالاحد «مجروح »